5171
گنه (۲)
۱۳۵۰
۲
۱۳۵۰

کندهار



په دې ورځو کې کندهار ښاروالی د هرات په دروازه کې د میوندرستوران لویدیځ پلو سړک باندې قیر واچاوه او دغه سړک ئې پوخ کړ.

په عکس کې د ښاروالی د قیر اچولو د څانګې کارکوونکی د قیر اچولو په حال کې لیدل کیږي.



په دغه عکس کې د ښاروالی د قیر اچولو د څانګې رولونه د میوند رستوران د لویدیځ پلو په سړک باندې د فعالیت په حال کې لیدل کیږي.

د کندهار مجله

د امتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
د مسؤل مدیر وکیل: غلام محی الدین (ایوبی)

کندهار
میاشتنی خپرونه
ادبی، تاریخی، اجتماعی، علمی
اداره: د شهیدانو واټ
د تاسیس کال ۱۳۳۹
د دولسم کال دوهمه ګڼه
پرله پسی ګڼه ۱۲۸

کالنی بیه
په کندهار کی [۲۸] افغانی
د هیواد په داخل کی [۳۲] «
په د باندنیو هیوادو کی یو ډالر
د غویی میاشت
۱۳۵۰ لمریز کال

د دې ګڼې مضامین

مضمون	پاڼه	مضمون	پاڼه
د مطبوعاتو او فرهنګی....	۱ مخ	د کندهار د اوبو...	۱۲ مخ
ادب یعنی	۲ «	ادب ګلونه	۱٤ «
د سړي میاشتی...	۳ «	د کندهار د یو هوان...	۱٦ «
عصری کمالات	٤ «	د لرغونی افغانستان...	۱۸ «
آیا د مریخ...	٥ «	په افغانستان کی...	۲۳ «
ارګانیزم	۷ «	په جراحی عمل...	۲٥ «
د بودجې د تنظیم روشونه	۸ «	د غزنوی محمود...	۲٦ «
د کورنیو خوابدیو...	۱۰ «	د شطرنج اوږد...	۲۸ «

د مطبوعاتي او فرهنگي خدمت انکشاف

د کندهار علم پالونکي، ادب او هنر روزونکي سیمه چې د هیواد په تاریخ کې خپل خاص مقام لري، دا ایجابوله چې دلته د مطبوعاتو په چوکاټ کښې په یوه مناسب وخت کښې یوه داسې فرهنگي مؤسسه منځ ته راشي چې د طلوع افغان او کندهار مجلې تر څنگ د دغې سیمې د پاره د علمي، ادبي، هنري، تاریخي، دیني، اجتماعي او نورو گټورو کتابونو او رسالو د خپرولو د لارې طباعتي خدمت سرته ورسوي، اوس دا دي د نیکه مرغه د کندهار د کتاب چاپولو مؤسسه د دروسو وزرو افغانیو په ابتدائي پانگه جوړه او خپل فرهنگي خدمت ته چمتوده او په خپلو گټورو فعالیتونو سره به زموږ د علم او ادب پالونکو علمي تنده لیرې کړي.

دغې طباعتي مؤسسه لومړي ځل د تبرک د پاره د کندهار د خرقې شریفې تاریخي رساله پرښه کاغذ، ښکلي قطعي او رنگه عکسونو سره په، بښتو دري او انگلیسي ژبو چاپ کړه او دغه رساله د دې ځای د متدینو خلکو او علاقمندانو ډېره خوښه شوه او زموږ خلک په دې هیله دي چې دغه مؤسسه وکولای شي په آینده کښې د کندهار هغه گټور آثار چې زموږ پر ملي فرهنگ، ولسي ادبیاتو، هیواد او سیمې پر تاریخ روڼا اچوي او زموږ د ولس علمي او ملي ادبي ذخیره راشتمنه کوي چاپ او د ټولو د استفادې د پاره وړو گرزي.

دغه مؤسسه به د علمي آثارو او عصري معلوماتو او نورو گټورو ژباړو په خپرولو سربیره د دغې سیمې د پخوانیو شاعرانو او ادیبانو لکه رحمت الله بابا، عبد السلام شاعر، ملا عبد المنان، مرحوم لوی مخلص او داسې نورو هغو کسانو د ژوندانه حالات او د اشعار دیوانونه خپاره کړي چې اوس ئې اشعار د خلکو په حافظو کې دي او ورو ورو د یاده وځي او که هغه راټول او چاپ نه شي زموږ د ملي ادب د پانگې د پاره لویه ضایعه گڼله کیږي.

هغه کسان چې د خپلې دغې طباعتي او فرهنگي مؤسسې او مطبوعاتو سره د دغو کسانو او داډول نورو نوم ورکو علمي او ادبي شخصیتونو د ژوندانه د حالاتو د روڼولو او آثارو د غونډولو په هکله مرسته کوي هغوی د یوې خوا په دغه ستر ویاړ او ملي خدمت کښې گډون کوي چې د دغې لارې څخه زموږ د هیواد والو په برخه کیږي او د بلې خوا دغه طباعتي مؤسسه په خپل ملي او فرهنگي خدمت کښې نوره هم تشویق او بریالي کوي.

د کندهار د کتاب چاپولو مؤسسه چې یوه تصدۍ ده د دې سیمې د علم پالونکي والي ښاغلي محمد صدیق په پاملرنه او د کندهار ښاروالي، حساسو کسانو او دولتي مطبعې د ریاست په مالي مرسته منځ ته راغلي او یوه عالي شورا لري چې رئیس ئې د دولتي مطابعو رئیس دي، عالي شورا د مؤسسې ټولې اداري او مسلکي چارې پرمخ بیائي او عامل هیأت ټاکي.

په کندهار کښې د کتاب چاپولو د فرهنگي مؤسسې منځ ته راتگ یو ستر اقدام دي چې د دې ځای د مطبوعاتي او فرهنگي خدمت د انکشاف په لار کښې اخستل شوي دي او که دغه مؤسسه په خپل هدف کښې بریالي شي او خپل علمي خدمت د گټورو پروگرامونو او سنجش د لارې پرمخ بوزي او د کندهار علم پالونکي خلک د دغې طباعتي مؤسسې د چاپ شویو آثارو څخه د خپلو معلوماتو زیاتولو او شخصي کتابخانو د ښکلي کولو لپاره زیاته استفاده وکړي نو باور دي چې د کندهار د کتاب چاپولو مؤسسه به ورو ورو په دې توفیق ومومي چې د دغې سیمې د پخوانیو او اوسنیو شاعرانو او ادیبانو د ادبي او نورو علمي آثارو خپرولو تر څنگ د فقهي شریفې ضروري مسایل، شرعي احکام او داسې نورو دیني کتابونه چاپ او د ټولو خلکو د علمي استفادې لپاره وړاندې کړي.

(یو بې)

د اقتراح دو همه برخه:

ښاغلی ژواك:

ادب یعنی؟

په تیره مقاله کی موږ د ادیب میخانیك حال لږ وڅیړه دادی نن دا برخه لږ څیړل غواړو چی ادیب په ډاینامیك حالت کی د کومی اغیزې خاوند دی.

لږ توضیح: دلته د ډاینامیزم څخه د ادیب ذاتی اغیزه او د میخانیك حال څخه پرده د محیط اغیزه مراد ده چی په فعلیت او انفعال سره هم تعبیر یدلای شی.

خیر! موږ وویل: ادیب د ټولنی جوړ کړی نقش دی مگر دلته دا سوال پیدا کیږی چی ادیب پخپل موثریت کی څه ډول رول لری که یه؟

موږ هیڅ دا نشو ویلای چی ادیب یو هغه عنصر دی چی اصلا هیولا ونه لری دا خبره اصلا باید د مقالی دویونکی په زړه کی ونه گرزی.

ادیب لکه څرنگه چی د جامعی په جوړونکی قدرت کی یوه پرزه ده، په همدې شان دی هم دلته نقش لری او هغه دا دی:

ادیب د ټولنی د کړو وړو هنداره ده، دا هنداره د محیط ښوونه د خپل استعداد په اساس کولای شی مثلا که د ده سره د مذاق او هغه مذاق چی ده ته د طبیعت جوړښت ورکړیدی تقاضا داوی چی جامعی ته د پرشا تلو یا ساکن پریښودلو، یا پرمخ بیولو امر کوی، دا توان تر یوه حده لیری او بی اغیزې نه بلل کیږی، مگر د ده دغه کار د ټولنی د کړو وړو څخه مجرد مه بولی حتی دلته لا کله د ادیب نقش هغه رنگ هم ښودلای شی چی دی د هغه اراده نه لری.

د مثال په ډول بالزاك د خپل ریالستی په ایجاد کی خپله همدغه لار ارادې نه بولی بلکه د ده سره د رومانتیك لاری عکس العمل دا کار وکړ چی دی نن د ریالیزم پلار بلل سویدی.

دا تاریخی ثبوت موږ ته دا ښئی چی د ادیب عکس العمل ولو که آزادی هم نه وی پر ټولنه او د ټولنی په روش کی موثر ثابتیدلای شی.

دا ډول ثبوت موږ د ادیب په اغیزه ښه خبر وی.

هوگو د رومانتییزم یا تخیل او احساس د اصالت پلار بلل کیده مگر وروسته، وروسته دې د پارناسس یا هنر د هنر د پاره غوښتونکی پلار وباله شو. یعنی په هغه وخت کی چی د پرزژوازی عروج او سیلاب روان دی، دی د ادب او متقاضی روش پرضد یو قدم ایږدی او دا قدم موثر هم ثابتیږی دا څکه چی ادیب هم یو ډاینامیك لری او دا ډاینامیك هسی په سپك نظر کتل د واقعیت څخه لیری باله شی.

بیا هم موږ دا خبره په تجریدی نظر نه گورو او وایو چی دلته د دواړو اغیزه د فعل او انفعال په صورت شته چی هیره باید نشی.

بیا هم دا خبره د څیړنی وړ ده او دا دی ښاغلی ادیبان را بولو چی دوی څه وایی؟

او دا پوښتنه خپلو څوانانو ته پریږدو چی دوی څه وایی!.

له هری خوا:

کوچنی هیواد

د نړۍ کوچنی هیواد د «لیختن اشتاین» هیواد دی چی ۱۵۷۵۲ تنه پکښی اوسی او ۶۲ کیلومتره پراخوالی لری.

کوچنی سیاره

د شمسی نظام کوچنی سیاره «پلوتون» نومیږی چی په ۱۹۳۰ کال کی کشف شوې ده او د مځکی د کرې څخه د هغه فاصله ۳۵۷۵ ملیونه میله اټکل شوې ده.

د نړۍ کوچنی پارلمان

د نړۍ ډیر کوچنی پارلمان د «لیختن اشتاین» پارلمان دی چی یوا څی ۱۵ تنه غړی لری.

د نورو افکار

سختی او خواری، د سړی د عقل او فکر حاصل ډیره وی.
(ناپلیون)

د میړه وضعیت په سختی او نیکمرغی کی یو شان وی.
(ناپلیون)

اختر محمد د سرې میاشتې مشاور:

د سرې میاشتې او سره صلیبونو تلین

ګرانو لوستونکو او هیوادوالو ته به څه ترا څرګنده وي چې دنړۍ په زیاترو هیوادونو کې یو څه رواج او نیک معمول سته هغه دادی چې د اجتماعي، خیریه او عرفاني چارو د پاره لکه د مور و رغ دښو ونکي، کاګرو او روغتیا د ورځو په خیر ورځې ټاکل شوي او هر کال ددې موضوعاتو په ښا وخوا کښې بیانیې ورکول کیږي او محفلونه جوړیږي او په هغه مسایلو رونا اچول کیږي نو د دغه معمول سره سم د سرو میاشتو سره صلیبو او شیر خورشید سرخ د خیریه چارو له پاره هر کال یوه مهاني ورځ ټاکل شوې ده چې هغه ورځ اتمه دمې او د ثور د اتلسمې نیټې سره برابره تثبیت شوې ده او د هغه شمار سره کال مم « سره صلیبونه، سرې میاشتې، او شیر خورشید سرخ هرګړې ستاستې به خدمت کښې ولاړدي » تعین شوې ده.

حقیقتاً د اموضوع یا شمار د دغو لوبو خیریه او بشري ټولنو د پاره ډیر مناسب او د شانه سره وړ یو برجسته شمار دی ولې چې موږ وینو او اورو چې د سره صلیبو او سرو میاشتو خدمتونه او کومکونه ترکمې اندازې پورې مؤثر او دوام لرونکي دي د دوی همکاري او کومکونه که په داخل کې د هیوادوي یا ماخواته ترسرحد ډیر د ستاینې او قدر وړ دي هکه په دې پرآشوب او ناآرامه نړۍ کې تل د انسانانو ترمنځ جګړې، دښمنې او آسماني فلاکتونه او مصیبتونه لیدل کیږي د نایجریا آشوبونه، د ویتنام جنګونه د ختیځ پاکستان لوی سیلاؤ او کورنۍ اړدوړ د ایران، جنوبي امریکا او ترکیې زلزلې او داسې نورې پیښې به ستاسې د یاده نه وي وتلې او د سره صلیبو او سرو میاشتو دوام کرونکي خدمتونه او زحمتونه به موهم نه وي هیرسوي به هر حال د دې لوړې مفکورې او نیکې همنوعي به باره کې ټول آسماني او مقدس کتابونه ډک دي خو د اسلام پاک دین خو د ډیر اهمیت ورکړي لکه د پنځو بناؤ څخه د دې دین یو هم (زکات) دی چې هغه هم بې وزلو ته د جنسي او مالي کومک څخه عبارت دی سل کاله پخوا یو بشر دوسته لوی انسان «هانري دونانت» د دې لوړې مفکورې او بشري غاښې ته د یو بین المللي بشري قانون شکل ورکړ او ترسلو ډیرو هیوادو دغه قانون لاسلیک کړ او په خوښي سره ئې ومانه نو په دې توګه سره یو ستر جهاني سازمان منځ ته راغی.

زموږ افغاني سره میاشت هم د دې لوی بشري او انساني سازمان یو صادق او فعال غړی دی.

تقریباً شل کاله د مخه زموږ ګران هیواد افغانستان هم د دې نوموړې مفکورې د رسماً منته وکړه او د هغې څلورګوني مرتب پروتوکولونه یعنې « د جنګ د زخمیانو، د جنګ د بندیانو، د غړو ومحاربو طبقو لکه کوچنیان، ښځې، سپین ږیري او د بحري زخمیانو حمایه » ئې لاسلیک کړل تر اوسه پورې د افغاني سرې میاشتې ټولنې زموږ د خیرغوښتونکو خلکو په مرسته او د رهنمایانو په لارښوونه سره هر کال دستاینې وړ او با ارزښته خدمتونه او معاونتونه کړيدي سرې میاشتې یواځې په ۱۳۴۹ کال کې تر ۱۳ ملیونو افغانیو ډیرې د داخلي او خارجي مرستې کړې دي د غه مرستې د خوړلوشیان، د اغوستو کالي، د واوي او نور نقدي او صحي مرستو څخه عبارت دي د غه مرستې ټولې بې له کوم تبعیض او امتیازه د بشر د ژوند د بقا او د هغو د زخمو او د ردو د ښه کیدو او سپکیدو پر اساس متکي دي.

په زیاترو هیوادو کښې د نړۍ نور ښاري او محلي خیریه تشکیلات لکه د دارالمساکین، د دارالایتام، د دارالشفقه، د دارالتأدیب او نور د داسې تأسیسات هم سته چې عموماً د محلي او ښاري سوداګرو او شته منو له خو تمویل او اداره کیږي که څه هم د غه تشکیلات به اصلي غایو او مقاصدو کې له سرو میاشتو سره چندان ښکاره توپیر نلري خو د تشکیلاتو د پراختیا او د مرستو د دوام او شکلو له مخې ډیر فرق سره لري.

په چینو هیوادو کې د غه تشکیلات د سرو میاشتو تر بیرغ لاندې اجراآت کوي او په چینو سیمو کې د ښاروالي تر اثر لاندې یا د بیلو کمیټو په لارښوونه سره اقدام کوي حال دا چې سره میاشت د جهاني (بین المللي) بریښ بیو سره سم بې له لرې د چینو د زیاترو قیدو شرط لکه مالیه، ګمرک او نورو موانعو او محدودیتونو څخه خلاصه ده حتي منسوبین او خدمت ګاران ئې د جنګ به میدان او نورو موادو کښې بوره امتیازات او آزادي لري.

غلام فاروق «انورزی»

عصری کمالات

د بشر نننی پرمختګ او د ساینس او تکنالوژۍ انکشاف چی د نن ورځی د ټولو انسانانو د لوړتیا او د بشری ټولنو د ارتقا سبب شوی دی . د عصری پوهنی او کمالاتو له برکته منځ ته راغلی چی بشر ته ئې نه یواځی د مځکی د مخ د تسخیر واک ورکړی دی بلکی د سیندونو د تل څخه د بشری ټولنو د استفادې د پاره کار اخستل کیږی .

د اوسنی نړۍ بشری ټولنو د عصری کمالاتو په رڼا کښی د سپوږمۍ کړې ته د بشر د تللو امکان برابر کړی دی چی د اکار یواځی او یواځی د بشری ټولنو د پوهنی او لوړو کمالاتو کوشش او زیار نتیجه ده چی نن ورځ ئې بشری ټولنی د سر په ستر ګووینی

د اوسنی عصر د بشری ټولنو د ژوندانه د چارو سمون، نیکمرغی ارتقا او ستر موفقیت د نړۍ د پوهانو او د کمالاتو د خاوندانو د زحمت کښلو او زیار ګاللو ثمره ده، چی بشر ته ئې اوس د علم او کمال په برکت د تخنیک له پلوه څومره قدرت ورکړی دی، د لوی غرونو د زړونو سوری کول د سیندونو مخه ګرځول د مځکی او غرونو د ځیګر څخه د راز راز قیمتی کانونو او پترولو راایستل

د بی سیم تیلفون ، تلګراف ، تلویزیون ، هلیکوپترالوتکی او داسی نورو شیانو اختراع او په کار اچول چی د بشری ټولنو د هوساینی، آرامی او نیکمرغی به لار کی شپه او ورځ خدمت کوی او نتیجه ئې په ښه ډول هر انسان ته روښانه او څرګنده شویده .

د پورتنی بیان څخه څرګنده شوه چی د انسانانو نیکمرغی او کامیابی بې له عصری پوهنی او کمال څخه امکان نلری ځکه چی د انسان او د انسانیت د مقام او حیثیت لومړۍ شرط علم، پوهنه او کمال دی .

په نننی عصر او زمانه کی ناپوهی، بې کمالی او لټی د یوې ټولنی د انسانانو د تباهی او بربادۍ سبب کیږی او هیڅکله داسی ټولنی او انسانان د ژوندانه په ډګر کی د بریالیتوب پړاؤ ته نه رسیږی .

او نه به ناپوه او لټ انسانان د ژوندانه په ډګر کی د انسانی کرامت او فضیلت خاوندان شی .

نن ورځ هغه انسانان او ټولنی ځانونه د بربادۍ او بیرته پاته کیدو څخه راګرځولای شی چی د عصری پوهنی او کمالاتو په روښانه ډیوه سمبال شوی وي .

د ناپوه انسان زیان او ضرر یواځی پخپله وده ته ندی متوجې بلکی په ټولنه کی د ناپوه او بې کماله انسانانو وجود د یوې ټولنی د بیرته پاته کیدلو او ټیټیدلو سبب ګرځی نو باید هر انسان د خپل ژوند د هوساینی او نیکمرغی د پاره تر هر څه د مخه د پوهنی او عصری کمالاتو په رڼا کی د ناپوهی او بربادۍ د ظلمت څخه ځانونه وژغوری .

نن په نړۍ کی هغه ولسونه او ټولنی د لوړتیا پر لور او چت ګامونه پورته کوی چی د هغو د ټولنی څخه د بیسوادۍ ناروغی او ځانځانی خطرناکو رنځونو کوچ کړی وی .

د پرمخ تللو ټولنو انسانانو د عصری کمالاتو په رڼا کی د بیسوادۍ ناروغی، لټی او نورو اجتماعی مفاسدو د منځه وړلو په لار کی مبارزه کړیده .

د کوشش، زیار او زحمت ګاللو په نتیجه کی ئې د خپلی ټولنی اجتماعی نیمګړتیاوی لیری کړی دی .

نو راشی چی موږ هم د عصری کمالاتو په لاس ته راوستلو سره د هیواد او ولس په اجتماعی خدمت کی تر شخصی ګټو اجتماعی ښیګڼو ته ترجیح ورکړو .

نن چی زموږ ګران هیواد د انکشاف په حال کی دی او موږ غواړو چی د هیواد په ټولو چارومو کی ستر تحول او ارتقائی بدلون راشی نو پر موږ لازمه ده چی د خپلو ځانو او ټولنی څخه د اجتماعی فسادونو هغه عوامل او نیمګړتیاوی لیری کړو کوم چی زموږ د هیواد د ترقی او پرمخ تګ خنډ ګرزی . د هیواد

«نور په ۷ مخ کښی»

ژباړونکی محمد علی «خواجه»:

د خارجی مطبوعاتو څخه:

آیا د مریخ سپوږمیانی مصنوعی دی؟

د مریخ د مصنوعی سپوږمیانو موضوع له هغو عجیبو نظریو څخه ده کوم چی تر اوسه پوری د دغه له اسراره ډک ستوری په باره کښی وړاندی شوی ده.

به حقیقت کښی هر کله مریخ د مځکی د خلکو لپاره د تکلو نو منشا او له هغه ځایه څخه چی حیرانونکی او له اسراره ډک ډېر موارد د دغه نجومی ستوری په ظواهرو کښی شته دهغه په باره کښی ډول ډول نظریی وړاندی شوی چی دغه د سپوږمیانو نه طبیعی والی هم یوه له هغو نظریو څخه دی.

دا نظریه د روس مشهور ستوری پیژند ونکی اشکولفسکی پوری اړه لری، چی د مریخ او د ځینو نورو ستورو د ځیړنی او نظریی له کبله د خپل هیواد د پوهنځی او ملی نښان په لاس ته راوړلو باندی سر لوړی شوی دی.

سر بیره پر هغه شوروی پوهانو او په پای کښی امریکا هم به دغه مسئله کښی خبری اتری کړی چی د هغو له جملی څخه باید لومړی د شوروی اتحاد د علومو د اکاډمی غړی ولاد یمیر فستکن یادونه و کړو هغه وائی چی مریخ دوی سپوږمی لری چی یوه قوبوس او بله دیموس نومیږی چی د دواړو واټن له ستوری څخه لږ او په عین حال کښی ډېر لږ قطر هم لری.

(لومړی صرف ۱۰-او ۱۶-میله) چی نسبت نورو سپوږمیانو ته ډېره مملومیږی.

اشکولفسکی او نور همفکران ئی باوړلری چی دا دوی سپوږمی مصنوعی دی او به قوی احتمال سره به مریخ کی د اوسیدونکو پوهانو په وسیله چی تر دغو وروستیو وختو پوری موجود ؤ او د احتمال له مخی دوی او تمدن ئی به نامعلوم علت سره له منځه تللی، جوړی شوی دی، دوی د دغی نظریی د اثبات لپاره لومړی د هغه عکس ددوی.

به دغه ترتیب چی وایی که چیری د مریخ او د نورو ستورو سپوږمیانی طبیعی وی یا داچی پخپله د ستورو څخه جلا شوی یا د خارجی فضا څخه راغلی او د ستورو د جاذبی قوی لاندی شوی او د هغو په شا وخوا باندی په چورلیدلو باندی پیل کړی، خو علمی ډېری نښی نښانی دا څرګندوی چی په لاندنیو دلیلونو سره د مریخ سپوږمیانی نه پخپله د مریخ څخه جلا شوی او نه د خارجی فضا څخه راغلی دي.

۱- که چیری هغوی د ستوری څخه بیل شوی وی د میکانیک او هیئت د قوانینو له مخی لازمه ده چی د ورو ورو د ستوری څخه لیری شی (لکه څنګه چی د ځمکی د سپوږمی په باره کښی هم دغسی ده او سپوږمی د هغه حساب له مخی چی شوی د ورو ورو له ځمکی څخه لیری کیږی) حال دا چی د مریخ سپوږمیانی له مریخ څخه نه لیری کیږی بلکه هغه ته نژدې کیږی، اشکولفسکی حساب ورته کړی چی د مریخ لویه سپوږمی ۵۰۰ ملیونه کاله پخوا د دغه ستوری به هغه فاصله کی قرار درلود چی د مریخ د یوی شپی ورځی د مودې به اندازه یوه پلاو د باندی چورلی، له همدغه ځایه ئی نتیجه اخیستی ده چی د (قوبوس) عمر باید ۵۰۰ ملیونه کاله وی او به همدغه علت سره نشی کولای چی د مریخ څخه بیل شی دا ځکه چی به هغو وختو کښی مریخ ۵۰۰ ملیونه کاله مخکښی د مځکی به شان یوه کلکه کره وه او دا به منطقی خبره نه وی چی ورو ایو دغسی شی به پیښ شوی وی.

۲- که چیری د مریخ سپوږمیانی له خارجی فضا څخه راغلی وی (به دغه ډول، طبیعی وی) لازمه ده چی به ځلیدونکی مدار کښی د ستوری پر شا وخوا باندی وچورلی. حال دا چی د دغو دوو سپوږمیو مدارونه دایروی شکل لری او به همدغه دلیل ممکنه نه ده چی دوی د ستورو د لومړنیو وریځو منشا منځ ته راوړی، پیدا شوی وی.

دا ځکه چی به دغه ترتیب سره، لازمیدله چی بیضوی

شکل مدارونه دی ولری .

۱- دمریخ سپوږمیانی مصنوعی دی.

۲- ۵۰۰ ملیون کاله پخوا پیدا شوی دی .

خو په وروسته وختو کښی دا نظریه د نورو پوهانو له خوا لکه فئسو دورزیګل چی خپلی نظریی په هغه کتاب کښی چی د رازونو له مخ نه پرده پورته کیږی نومیږی ، رد شوی ده .

دا ډله څرګندوی چی دمریخ سپوږمیانی مصنوعی دی خو د اشکولفسکی تر نظریی ډیره ځوانه ده او د دغی نظریی د اثبات لپاره دالاندنی دلیلونه وړاندی کوی.

دمریخ د سپوږمیانو مصنوعی والی په دې معنی دی چی مریخ د پوهو او متمدنو موجوداتو له خو ۵۰۰ ملیون کاله پخوا جوړی او فضاته توغول شوی دی .

پوهیږو چی مریخ هم لکه مځکه او نورو لمریزو منظومی ستورو په شان یوی زمانی ته سره نژدې منځ ته راغلی او دا به منطقی خبره نه وی که داسی فکر وکړو چی دمریخ اوسیدونکی موجوداتو د نن ورځی تر تمدن ۵۰۰ ملیون کاله پخوا په داسی حال کی د مځکی د شرایطو په نسبت په نامساعدو شرطونو سره ژوند تیراوه دغسی حیرانو کی تمدن دی ولری .

هغوی هم لکه د مځکی د خلکو په شان د پیدایښت، تکامل، د ټولنی سره سازکاری او د تمدن د مراحلو تیرولو ته اړؤ او دا به یوه اشتباه وی چی فکر وکړو د مریخ د نړۍ د تحولاتو چټکوالی د مځکی د تحولاتو تر چټکوالی دومره مخکښی ؤ چی ۵۰۰ ملیون کاله پخوا ئی تمدن دغه درجی ته رسیدلی ؤ چی موږ نن ورځ لا هم ورته نه یو رسیدلی .

سمه خبره داده چی داسی فکر وکړو دوی زموږ معاصرو او دمریخ سپوږمیانی په دغه وروسته وختو کښی فضاته توغول شوی دی. ځینی علمی دلیلونه هم شته چی د دغی نظریی په قبلولو کښی زموږ سره مرسته کوی .

۱- دمریخ سپوږمیانی په ۱۸۷۷ میلادی کال کښی کشف شوی او پخوا تر هغه هیچا نه وی لیدلی .

تر هغی زمانی پخوا دمریخ تر سپوږمیو ډیری لیری سپوږمیانی د تلسکوپ په وسیله لیدل شوی دی د مشتری د یو شمیر سپوږمیانو د کشفولو داستان ګالیله (که څه هم ځینی پیښی د دغه کشف سبب شوی) ښه ترا ثابتوی .

که په رښتیا سره په هغه کال کښی دمریخ پر شاوخوا باندی شپوږمیانی موجودی وای نو حتماً لیدل شوی به هم وای. نو د قوبوس او دیموس د پیدایښت څخه صرف سل کاله تیر شوی دی.

۲- دمریخ سپوږمیانی د خپل حجم او ناچیزی سطح سره نشی کولای چی د فضائی سوزونکو او دایمی اجرامو د رژیدلو په مقابل کښی دوام ولری .

«زیګل» حساب ورته کړی که چیری (اشکولفسکی) نظریه سمه وای او په رښتیا سره دمریخ سپوږمیانو ۵۰۰ ملیون کاله عمر درلودلای نو په دومره اوږده موده کښی به هرو مرو د داسی ستورو د رژیدلو هدف ګرزیدلی وای چی د یوه فضائی جسم د منځه وړلو لپاره ۱۰۰۰٫۰۰۰٫۰۰۰٫۰۰۰ ټنه وزن کافی وی ،

په داسی حال کی چی قوبوس لوړه درجه ۸۰۰٫۰۰۰٫۰۰۰ ټنه وزن لری معنی دا چی د ۵۰۰ ملیون کلونو د رقم څخه ئی عمر زرواره لږ دی کوم چی اشکولفسکی پیشنهاد کوی . وروسته بیا زیګل دمریخ د سپوږمیانو عمر پخپله محاسبه او استدلال سره د سلو کلو شاوخوا ته رسوي او وائی دغه دوې سپوږمی ښائی یوه بیړۍ پخوا دمریخ د پوهو او متمدنو اوسیدونکو په لاس فضاته توغول شوی وی :

په دی لړ کی ځینو نور دلیلونه هم شته، دائی په زړه پورې دی چی وائی دمریخ د سپوږمی منځ ګوګ (خالی) دی نو له همدغه کبله مصنوعی دی ، خو اساسی مسئله داده چی دمریخ احتمالی اوسیدونکو به ښائی څنګه غښتلی او د برمه ډک تمدن څخه استفاده کړی وی چی د هغه په وسیله ئی وکولای شول دغسی سپوږمیانی فضاته وتوغوی، وروسته د دې پوښتنی جواب اسان دی پروفیسور محسن هشترودی عقیده لری چی دا ټومی موشکانو په وسیله کیدلای شی چی دمریخ تر سپوږمیانو لوی لا هم فضاته وتوغول شی، پروفیسور هشترودی د هغه پوهانو له جملی څخه دی چی د زیګل د نظریو سره موافق دی .

دا ډله پوهان دغه مهم ټکی ته اشاره کوی چی وخت ناوخت دمریخ پر سطح باندی کم دوامه خو ډیره ځلیدونکی رڼا لیدل کیږی چی په ۱۹۳۷، ۱۹۵۴-۱۹۵۹، ۱۹۶۳ کلونو کښی د ډیر شمیر پوهانو په وسیله په ټوله نړی کښی ضبط شوی (د هغو له جملی څخه المانی «یولیوس ګونتر» جاپانی «ساآکی» «امریکائی» «رابرتسن» په وسیله) د معمول سره سم تر هر تابش وروسته د رڼا په ځای کښی کوچنی وریځی پیدا کیږی چی د قارچ د وریځو سره اټومی چاؤدنو ته ورته والی لری .

په هر صورت دا مسئله هم د هغو موضوع ګانو له جملی څخه ده چی ښائی د انسانانو د ورتګ پوری مریخ ته او له نژدې څخه د حقایقو تر لیدلو پوری هغسی په پرده کښی پټ پاتی شی .

(پای)

د محمد عظیم «هوشمند» څیړنه او لیکنه:

پوهنه او روانشناسی:

ارگانیزم

د ارسطو په څیر نامتو پوهانو بشر ته د علمی تحقیق لاری څرگندی کړی دی.

خو هغه تصورات چی موږ ئې د فیزیولوژی په باره کی لرو د هغو مستقیمو مطالعاتو نتیجه ده چی بیلو، بیلو عالمانو د انسان په باره کی په تیره بیا پدې وروستیو وختو کی د انسان د کړو او سلوك په هکله سرته رسولی دی.

د ۳۰۰ ق م کلو په شاوخوا کی د انسان په باره کی څیړنه او تحقیق ممنوع ؤ.

د ۳۰۰ ق م څخه بیا تر ۵۰۰ کلو پوری د انسان د بدن په باره کی ډیر تحقیقات وشول او د جالینوس په عصر کی (۱۳۱م-۲۰۱م) نوموړی څیړنی خپلی وروستی درجې ته ورسیدلې، لیکن د دکارت تر وخته پوری ئې (۱۵۹۶-۱۶۵۰م) چندانی پرمختگ په برخه نه شو.

دکارت د ارگانیزم په باره کی داسی تصور کاوه چی د انسان بدن یوه پیچلی او مغلق ماشین ته ورته دی چی د نور، صوت او نورو محرکاتو په واسطه تحریك کیږی.

دکارت عقیده درلوده چی هغه اعصاب چی د ځینو آلاتو څخه ماغزو ته او د هغو څخه بیا عضلاتو ته ځی د نازکو لولو څخه عبارت دی او د هغو د ننه څخه چی دکارت ورته (حیوانی لکی) وایی جریان لری.

د دې ماذې جریان د هغه فعالیت نتیجه ده چی په ځینو آلاتو کی د صوت، نور رفتار او نورو په واسطه سره منځ ته راځی. نو کله چی (حیوانی لکی) د دی لولو له د ننه څخه عضلاتو ته رسیږی، عضلات منقبضه کیږی. او کله چی نوموړی لکی بیرته راگرځی عضلات منبسطه کیږی.

دکارت د انسان د بدن په باره کی ویلی دی چی: د دې ماشین وظیفه په طبعی ډول د هغه اجزاؤ د خاص نظم او ترکیب په نتیجه کی کوم چی لری ئې تعینیږی، او کټ مټ د ساعت د ماشین او داسی نورو ماشینو په شان دی، نو پدې اساس د انسان د بدن او د هغه د حرکتو د پیژندنی لپاره هیڅ ضرورت نشته چی روح او یا بل حرکت ورکوونکی تر مطالعې لاندی ونیسو.

اما دکارت د نفس په موجودیت معترف او پدې عقیده ؤ چی نفس گولای شی چی د بدن پر مکانیزم باندی تاثیر واچوی او د نفس تاثیر پر بدن باندی د کاجی د غدې پواسطه سره چی د مغز لاندی ځای لری صورت نیسی.

که څه هم د دکارت معلومات د عصبی دستگاه او هغه د عکس العمل څخه ډیر لږ ؤ، اما نور څیړونکی ئی دې ته متوجه کړل چی دا امکان موجود دی چی د انسانانو تجربې او رفتار د عصبی جریاناتو د مطالعې له لاری وڅیړل شی.

خو وروسته له ډیرو کلو نوموړی مفکوره قبوله شوه او علمی بڼه ئی غوره کړه، او د قبلیدو علت ئې هم هغه پرمخ تگونه وه کوم چی د فلسفی فزیك او فیزیولوژی علومو په برخه شوې وه.

د نړۍ نامتو شخصیتونه:

آن سیناژان دولا

یو هسپانوی ډراماتیك شاعر دی چی په ۱۴۶۹ کی زیږیدلی دی او د ۱۵۳۰ کال په شاوخوا کی مړ سویدی.

نوموړی ډرامه لیکونکی په ۱۵۰۰ کال کی د یو څو خندونکو ډرامو پواسطه خپل ځان معرفی کړ، وروسته بیا ایټالیی ته ولاړ او د ملی اشعارو یوه مجموعه ځنی پاته سوه.

آن سینا د شعر او صنعت په شاوخوا کی یو کتاب لیکلی دی.

(د ٤ مخ پاته)

عصری کمالات

د سرلوړۍ او آبادۍ لپاره هر ډول زیار او فداکارۍ ته ځانونه چمتو کړو د هیڅ ډول زیار او زحمت څخه ځانونه ونه سپمو و ترڅو چی زموږ د ټولنی څخه د فقر بیسوادۍ، او ناروغۍ آفتونه لیری او ورك شی او په دې لار کی مثبت او گټور گامونه مخ په وړاندې اوچت کړو.

ښاغلی کرام الدین د کندهار څارنوال:

د بودجې د تنظیم روشونه

په اوسنی عصر کی د بودجې تنظیم او ترتیب د اداری مشکلاتو څخه یو مشکل دی او لومړی باید څرګنده شی چی د بودجې د پوره کولو له پاره د کومو منابعو څخه څه ډول پیسی راټولی شی او بیا دغه پیسی د دولت د بیلو بیلو ملی، اجتماعی او فرهنګی او نورو هدفونو د تحقق او تأمینولو د پاره څنګه په کار لویږی؟

زه دلته په دې مضمون کی پردې خبره بحث نه کوم چی بودجه څه شی ته وائی، حقوقی حیثیت ئې څنګه دی، د بودجې یو والی څه شی دی، یا د بودجې اجرا او کنترول د چا له خوا کیږی، یا دا چی عادی بودجه څه ته وائی، انکشافی بودجه کومه او څرنګه تنظیمیږی؟

زما اوسنی څیړنه او بحث دلته یواځی د بودجې د تنظیم او روشونو په هکله دی.

په دې وروستیو وختونو کی د نړۍ په ټولو دولتونو کی د بودجې د تنظیم په روشونو او کنترول کی ډیر پر مختګ راغلی دی، او دا روشونه ډیر علمی اساس لری، او دغو علمی روشونو د بودجې تنظیم، کنترول عمومی لګښتونه او هغه نتیجې چی په دولتی مؤسسو کی لاس ته ځنی راځی ډیر اسانه کړی دی.

پدې وختو کی په ټوله نړۍ کی د ټولو اداری مسایلو څخه یواځی د بودجې بحث د حکومتو او اداری پوهانو توجه ځان ته ورجلب کړی ده.

د بودجې د کنترول او تنظیم روشونه له دغه کبله خاص اهمیت



د مضمون لیکونکی

پیدا کړی او همدا رنګه د ځینو دولتو او اداری پوهانو په نظر کی بودجه یو مالی پلان دی چی په هغه کی د هیواد د خرڅ پیش بینی کیږی او ټول عمومی لګښتونه نر نظارت لاندی نیول شوی وی.

خو په اوسنی عصر کی د بودجې اهمیت د پلانو جوړول او په هغو کی یو هم آهنګی او وحدت منځ ته راوړل او د دولت په وظایفو او فعالیتو کی یو عمومی نظارت کول دی، زیاتره کسان پدې پوهیږی چی بودجه یو پیش بینی شوی لایحه یا پلان دی چی په هغه کی د دولت ټول عواید او لګښتونه د یوه مالی کال لپاره حساب شوی وی نو اوس باید موږ پخپله څیړنه او پدې بحث کی د بودجې د واقعی اهمیت او د هغی تاثیر د اجتماعی، سیاسی او اقتصادی پلوه مطالعه کړو.

بودجه د مالی سیاست له پلوه د اقتصادی حالت د تجزیې او تحلیلولو یوه ښه وسیله ده پدې معنی:

چی د ملی او فردی عوایدو او د هغه د منابعو پیژندل، د پانګو تشکیلیدل د لګښتونو اندازه ټاکل او په ملی هدفونو کی د هغو څخه استفاده کول ټول اقتصادی سیستمونه په بر کی نیسی.

پخوا دا فکر کیده چی د دولت لګښت د خصوصی پانګو د کموالی سبب ګرځی یعنی هغه پیسې چی د دولت له خوا لګیږی باید د خصوصی پانګو څخه راټولی او هغه کمی شی امانن ډیر لږ کسان پدې فکر دی.

څکه په ۱۹۳۸ او ۱۹۴۲ کلونو کی په امریکا او د اروپا په لویدیځو هیوادو کی دا خبره ثابته شوه پدې معنی چی:

د دولت د لګښتونو د زیاتوالی له امله ډیر کسان په کار بوختیږی چی هغه خلکو ته د دې کار څخه نوی او زیات عواید پیدا کیږی او دا طریقه د خصوصی پانګو د زیاتوالی سبب ګرځی.

نو دا خبره ثابته شوه چی هر څومره چی ددولت لګښتونه زیات شی یعنی انکشافی پروژی تر اجرا لاندی ونیول شی به همدغه اندازه افرادو ته کار پیدا کیږی چی دهغه کارځخه پیسی لاس ته راځی او دملی پانګو دجوړیدنو بنسټ او اساس ایښودل کیږی .

نو هغه ددولت دخلکو او افرادو دزیاد او زحمت او کارځخه نوی دعواید منابع لاس ته راوړی چی دا عواید هم ددولت او هم دافرادو به ملی عواید و کښی مهم رول لری .

په پورتنی مثال کی موولیدل چی ددولت دلګښتونو زیاتوالی څومره د افرادو په حال کښی اقتصادی اهمیت لری یعنی له یوې خوا عمومی بیکاری لیری کوی او له بلی خوا دهیواد افرادو ته دعواید و ښه منابع پیدا کیږی .

نن دعمومی لګښتونو قول اقتصادی جهتونه دمالیی دعلم ترسیوری لاندی چی دا اقتصاد دعلم یوه برخه ده مطالعه کیږی دلته کو دوچی دبودجی دتنظیم دوشونه به دوه ډوله مطالعه کیږی یوئی دسیاسی او اقتصادی پلوه او بل ئی دادارې وظایفو له حیثه .

دسیاسی او اقتصادی پلوه به دی شکل مطالعه کیږی یعنی هغه تصمیمونه چی دبودجی دپیسو تقسیمات چی به هغه کښی دبیلو بیلو هدفونو ترسره کولو لپاره نیول کیږی یعنی ددولتی هدفونو دتأمینولو لپاره پلانونه جوړول اما دعمومی لګښتونو ښه پیش بینی د پلانو دترسره کولو لپاره دقیق کنترول، وحدت او یو والی ددولت دبیلو بیلو فعالیتونو په لړ کښی، او یا نو داسی فعالیتونه دادارې تر بحث لاندی مطالعه کیږی پوهان وائی چی بودجه دقانون ګذارانو دقصد او نیت د عملی کولو لپاره یوه وسیله ده یا بودجه هغه وسیله ده چی دهغی به واسطه دقانون ګذار قول عالی افکار دقوی غځه فعل ته راګرځوی دلته نو دادوه ټکی چی سیاست خطمشی دادارې غځه جلا کوی یعنی ویلای شو چی بودجه دعمومی سیاست د اجرا کولو لپاره یوه لویه وسیله ګڼل شوی ده .

که غځه هم دلته په دې بحث کی یو اړی بودجه د ادارې تر عنوان لاندی باید مطالعه کړو اما بیا هم مجبور یو چی یو په څو ټکیو کی بودجه دسیاسی او اقتصادی علومو تر عنوان لاندی هم مطالعه کړو .

دولت هغه کولای شی یو داسی تصمیم ونیسی چی دبودجی یوه اندازه پیسی دجنګی سامانو په عوض کی دغریبانو سره کمکونه وکړی یا داچی ددولتی عوایدو دویشلو اساسی ټکی د عمومی هدفونو او لګښتونو به منځ کښی غځه شی دی .

یو عالم وائی : که په قوله کښی یو تن دخپل کور دخرڅ او عوایدو به منځ کښی یو ښه توازن ټینګ کړی دا جمله ددولت په باره کښی هم صدق پیدا کړی چی باید دولت هم دخپلو عوایدو او لګښتونو به منځ کښی یو ډه تعادل او موازنه وساتی یعنی هغه پیسی چی پخوا مو وویل چی دجنګی سامانو دا خستلو لپاره ټاکل کیږی او یا هغه چی غریبانو ته ورکولی کیږی باید ددواړو نهائی ګټه چی پکښی فکر کیږی وټاکل شی .

دا عمل د ټولو غځه به خصوصی پانګو کښی ډیرژر معلومیږی اما د دولت به فعالیت کښی دومره ژر نه معلومیږی دا ځکه هغه ګټه دیو تن لپاره حسابیږی او دا د ټولو افرادو د فعالیت ترسیوری لاندی وی .

نن دا اقتصاد ټوله پوهان دی خبری ته ډیر اهمیت ورکوی چی بودجه ځنګه تنظیم سی یعنی هغه پیسی چی ددولت عواید تشکیلوی به څه صورت دقیق حساب او هغه لګښتونه چی دولت ته ورپه غاړه دی اندازه شی او دهغو لګښتونو نهائی ګټه ددولت لپاره وټاکل شی دا د ټولو دولتونو لپاره یو لوی مشکل دی چی د بودجی پیسی ځنګه دملی مقاصدو ترسره کولو لپاره خرڅی شی او یا هغه لګښتونه چی دولت ته ورپه غاړه دی صورت ومومی نن وینو چی چی به زیاتر وهیوادونو پنځه کلن یا اوه کلن اقتصادی پلانونه جوړیږی چی د ټولو مقصد او مرام دملی عوایدو دزیاتوالی او دخلکو دبیکاری مخنیوی دی .

اوس به خپل اصلی مرام چی دبودجی دلایحی تنظیمول دی بیان کړو :

دا به ټولو ته څرګنده وی چی دبودجی لایحه ځنګه ددولت له خوا تنظیمیږی او به څه شکل سره دپارلمان له خوا تصویبیږی ؟ مراحل دادارې له پلوه ځنګه باید تیرشی ؟

(پاته په ۲۱ مخ کی)

د ژوندانه لار:

د م، ناصر (نصرت) ژباړه:

د کورنیو خوابدیو مخنیوی

که وغواړو چی زموږ د ورځنی اجتماعی چارو ناوړی پیښی، له خپلو هغو خواخوږو کسانو څخه چی کورته د ورتګ به وخت کښی ورسره مخامخ کیږو پټی کړو، دا به ډیره مشکله وی ځکه کله چی کورته سر، ورننباسو هلته فقط زموږ په لیدو سره زموږ د پریشانی او خفقان احساس کیږی.

موږ که په اجتماع کښی له خلکو سره کوم اختلافونه مومو، او بیائی شرح او بیان په کور کښی مشر یا کشر ته کوو چندانی ښه کار نه دی. او رشتیا هم داده چی بدې صورت ګواکی موږ په خپله د خپل کور د افرادو عاطفې او احساسات ورمړه او متأثر کوو، او بله دا چی موږ په خپله د خپل کور د افرادو د ډیر اوقات تلخیو منشأ شوی او په اصلی سبب ئې هم نه پوهیږو. په هر صورت چی وی باید د هغو د پیښیدو مخه ونیسو.

یوې ښځی چی هر کله به ئې د خپل میړه سهوی او خطاوی د دسترخوان پر سر ورته بیانولې او میړه به ئې هم هغه آداب او حرکات چی د ښځی د توجه وړ به وه ډیر، ډیر ځله ورته یادول.

یوه ورځ دوی دا سره خوښه کړه چی که موږ یو له بله کومه سهوه یا خطا ووینو د مخه تر هغه چی یو او بل ته ئې بې دریغه ووایو ښه به داوی چی په پټه ئې پر کاغذه یاداښت کړو او کله چی په نیمه شپه د خوب اطاق ته ځو، یو او بل ته ئې اظهار کړو.

تر دې تصمیم وروسته د دوی یو له بله شکایتونه خورا لږ شوی او خبره بیا دی ځای ته ورسیده چی هغه به په لیکنو هم نه ارزیدل، او یا دا چی به کورته راغلل غوښته ئې چی په لیکنه شروع وکړی په ځانو کښی به ئې دومره حوصله هم نه لیده چی یو له بله دلایل سره وړاندی کړی ځو آخر ئې له هغو څخه هم صرف نظر وکړ، او عجبه دا کله چی دوی به یو له بله د عیبو یاداښت کاوه، او د شپې به ئې وغوښتل چی هغه د خوب په اطاق کښی یو او بل ته سره ووایی له دې کبله چی د یوې خوا به د خوب وخت ؤ او د بلی خوا به د داسی خبرو موقع هم نه وه نو هر څه چی به ئې سره لیکلی وه هغه به بې ویلو باته او هغه وخت به ئې په ټوکو او ساعت تیریو سره تیراوه.

په همدې توګه دغی سلسلې ادامه موندلې، او دغه سبب شو چی دوی په خپله د مخه تر هغه چی د یو او بل عیب ښکاره سی، سره خوښ او اصلاح شول.

نو ښه داده چی موږ هم خپل اختلافونه او مشکلات د مخه تر هغه چی پیښ سی حل کړو، او دغه ته ئې پرینږدو چی موږ ئې تجزیه او تحلیل کړو، یعنی کوچنی خوشکه او لږ قهر وی ځو په وروسته کښی ډیر قهر، کینه او د زړه غوټه ځنی جوړه سی.

ځکه چی ډیری خوابدی او کدورتونه فقط او فقط پر یوه ناڅه خبره او موضوع باندی پیښیږی. دا زموږ عادت دی کله چی زموږ کارونه سره بند، او وپیچل سی په لومړی وهله کښی ئې نه سره خلاصوو ځکه چی په کوچنیو موضوعاتو او خبرو کښی دی نه وهو نو موږ ته ښایی په کومولویو او کوچنیو موضوعاتو کښی چی سؤ تفاهم واقع سی چی تازه وی باید ښکاره او فیصله سی، او دې ته ئې پرینږدو، چی هغه ډیر او وروسته کښی زموږ د احساساتو او عواطفو بنیاد ته رخنه واچوی او هلته ریښه وځغلوی.

له خلکو سره په ګډ او اجتماعی ژوند کښی بیله دې چی د اخلاقو په قواعدو او آدابو په رعایت پابند اوسو نور هیڅ شی زموږ د ژوندانه مشکلات له منځه نه بیایی.

موږ زیاتره د خبرو په وخت کښی د بین المللی سیاست، د انسانی اخلاقو او آدابو د رعایت او لزوم څخه خبری کوو. لیکن له نژدې کسانو او دوستانو سره په ژوند او ګذاره کښی دغه ټکی بالکل هیروو. موږ د سیاست بافی په عادت د خلکو د اقلیتو په حقوقو کښی بږغیږو لیکن بالمثل د خپلو وړوکو د شخصیت او وړوکو رعایت نه کوو.

زموږ د کورنیو بد اخلاقیو او

اختلافو یو علت همدادی چی په کور کښی هیڅ فرد ته داحق نه ورکوو چی په یوازی سرو اوسی .

که موږ دخپلی کورنۍ هر فرد ته داحق ورکړو چی په ۲٤ ساعته کښی لږ او ډیر یو ګړی یوازی اوسی

څو د استقلال او آزادۍ احساس وکړی، دغه کار اصلاً دمشکلاتو دحل، او دکارو دسموالی لپاره په خپله یو تمهید دی چی برخلاف ئې غالباً دکورنۍ دافرادو، د بداخلاقۍ او کدورت باعث شوی دی .

موږ هغه راشه، درشه چی په نیولی لاس او یاورین تندی ئې له خپلو دوستانو سره لرو باید دکور له افرادو سره ئې هم ولرو .

که چیری زموږ یو دوست او ملګری وغواړی چی زموږ له تیلفون څخه استفاده وکړی هغه ته داولیت حق ورکوو، نو ښایی چی په کور کښی هم دغسی رویه او معامله دخپل کور له هر فرد سره که څه هم ډیر وړوکی وی اختیار کړی له یاده ونه باسو .

دمثال په توګه لکه څنګه چی موږ دخپل دوست یا ملګری خطونه بې اجازې نه لولو، اطاق یا کور ته ئې بې خبره نه ورځو، خو بیا دخپلو ګرانو افرادو په نسبت چی زموږ څخه زیات انتظار او توقع لری په لږ څه ډیر تفاوت سره ددغو نکاتو رعایت نه کوو .

لکه څنګه چی وړوکی حق نه لری چی د پلار په کاغذو او شیانو باندی لاس ووهی او دمور کالی سره پورته او کښته کړی، نو مور او پلار هم باید د کوچنی استقلال او سرشار ژوند په نظر کښی ونیسی

او دیو مستبد فرد په حیث ئې په کارو کښی داخل او ځان وانه چوی او لږ ترلږه دی پریږدی چی وړوکی ئې په دې نړۍ کښی چی دځان دپاره ئې لری آزاد او مستقل اوسی .

سړی باید دبل چا حقوق محترم وګڼی او حتی دنورو خلکو د غیر انتظار بداخلاقی او ناوړه سلوک په مقابل کښی هم دسترګو پټولو، حس ولرې څو کولای شی چی دنورو خلکو سره په ګډ ژوند کولو کښی زیات

مشکلات حل، او هم کوم اختلافونه چی دخلکو ترمنځ پیدا کیږی تل آرام او ساتلی پاته سی .

په دې کښی شک نه شته چی موږ په ژوند کی له خلکو او حتی له نژدې صمیمی دوستانو څخه آزرده او خوابدی کیږو، دا ځکه چی موږ له خلکو، دوستانو او ملګرو څخه دبې اندازی ښه سلوک او نورو اخلاقو انتظار لرو .

نو که ستاسی زړه وی چی تاسی او اولادونه مو په ژوند کښی دیو ډیر وړوکی اخلاقی نقص څخه خلاص وی یقین وکړی چی دغسی انتظار او توقع مو محاله او دځان لپاره به ډیری سختی برابری کړی ..

که تاسی غواړی، دهغو خلکو اخلاق چی تاسی مینه او اخلاص ورسره لری ستاسی په مقابل کښی هیڅ تغییر، ونه کړی بی ځایه آرزوده ځکه چی دغه توقع دبشری طبع څخه مخالفه او لیری تقاضاده. دمیړه او ماینی، له اولاد سره دمور او پلار، او یا دکورنۍ د افرادو

ترمنځ زیاتره اختلافونه او جنګونه چی د کدورت، نفرت او خوابدۍ سبب کیږی، له دې کبله چی یو له بل څخه دډیر محبت او ترطاقت زیاته توقع کیږی، که تاسی بشری ضعف دترحم حس او ګذشت ونه لری یعنی دخپلو دوستانو ملګرو له ځینو سهوو او خطاؤ څخه په

مردانه توګه سترګی پوټی نکړی، داسی مثال لری لکه هغوی چی دمحبت او توقع پر نرۍ څنډه باندی رهی، په اندک تشنج او خفګان باندی ئې سرنګون کړی چی زیاتره وخت تاسی هم ورسره سرنګون کیږی .

دډیرو احساساتو او محبت په توقع سرنګونیدل دعقل او سمی لاری څخه وتلی کار دی .

نو که څوک په انصاف سره سترګی پټول او مراعات عادت کړی او په ځان کښی دګذشت او رحم حس ته

پرورښت ورکړی او هم دځان ضعیفو نقطو ته متوجه او قایله سر نو به وویل شی چی انسان له خطا خالی نه دی .

چی دا ښکاره شوه نو باید له دوستانو څخه ډیره توقع ونه لرل شی .

دا رشتیاده چی په کلی توګه داختلافو مخه نه شی نیول کیدلای، لیکن دسړیتوب اعتبار په دې کښی دی چی موږ باید هر کله داختلافو برخلاف یو له بله په مهر محبت او اخلاص سره ژوند وکړو او په خپلو منځو کښی همکاری او یو لاس کیدل په هیڅ قیمت له لاسه ورنکړو .

که دغسی لوی توفیق زموږ دژوند رفیق او ملګری شو نو به ژوند موږ ته وخاندی، او موږ به هم خوښ او خوشحال ژوند وکړو .

بریښنا او صنعت: غ، «ایوبی»:

د کندهار د اوبو او ډیزلی بریښنا

ته یوه کتنه

اوس په کندهار کښی هر ساعت ۴۸۰۰ کلیواټه

بریښنا لاس ته راځی

د بریښنا انرژی لاس ته راوستل او د هغه څخه د کورونو او ښارونو روښانه کولو، ماشینونو چلولو او فابریکو په کار اچولو کښی ګټه اخستل بې له شکه د انسانانو د پاره د اقتصادی او اجتماعی پلوه د دوی په ژوند کښی ګټور تحولونه منځ ته راوستلی دی.

بریښنا اوس د بشری ژوند صنعت، او تخنیک د انکشاف په لار کښی د یوه مهم عامل په حیث د انسانانو د هغو ضروری وسایلو او شرایطو څخه کڼل کیږی چی پرته له هغه څخه ابرومند او مترقی ژوند نه شی موندل کیدلای، او دا په حقیقت کښی د انسانی پوهی لوړ کمال او ساینس برکت ؤ چی د بخار ترمنځ ته راتلو وروسته امریکائی عالم «اډیسن» د بریښنا په کشفولو بریالی شو او ورو ورو له بریښنا څخه په تنویری او تدویری چارو کښی استفاده وشوه.

زموږ په هیواد کښی بریښنا د نیمی پیړۍ نه څه د پاسه تاریخچه لری او په هغو سیمو کښی چی د پخوا څخه د بریښنا انرژی پکښی تولید او په کار اچول شوی ده یوهم کندهار دی.

د باباولی صاحب داوبو بریښنا:

په کندهار کښی د بریښنا پخوانی دستګاه د باباولی صاحب داوبو بریښناده چی فرمایش ئې د هیواد ترلوی اړو دوړ د مخه ورکړ شوی ؤ د ودانی د چارو تر بشپړیدو وروسته دغه دستګاه د ۱۳۱۴ کال د اسد په ۱۴ نیټه په باباصاحب کښی ودرول شوه، دستګاه د هغه وخت نایب الحکومه ښاغلی غلام فاروق عثمان پرانیستله ساختمانی آمر ئې المانی متخصص (کراوسی) او فنی آمر ئې المانی متخصص (مستر هیوبل) ؤ.

د باباولی صاحب داوبو د بریښنا د تولیدولو ظرفیت لومړی محل ۳۳۰ کلیواټه ؤ خو ورو ورو د هغه کویلونه زاړه شول او له دغه کبله اوس د هغه ظرفیت ۱۰۰ کلیواټه دی.

المانی ام، ای، ان ډیزلی دستګاه:

دغی دستګاه په ۱۳۳۳ کال کښی په فعالیت پیل کړی دی، تولیدی ظرفیت ئې ۳۲۰ کلیواټه ؤ.

امریکائی ډیزلونه:

دوی پایې امریکائی ډیزلونه هر ډیزل ۶۲۵ کلیواټه

(نور په ۱۳ مخ کی)



د بریښنا دوه ډیزلی جنریټرونه چی د دواړو څخه ۳۰۰۰ کلیواټه بریښنا لاس ته راځی او پدې وختونو کښی د هغو د په کار اچولو له کبله زموږ د ښار د روښانه کیدو مشکل حل شوی دی.

دی په ۱۳۳۸ کال کښې په کار لویدلی دی .

دفیل کوه داوبو بریښنا:

دا بریښنا په ۱۳۴۱ کال کښې په کار ولویدله دوې پایې ماشینونه لري، هر پایه ئې په ۴۰۰ کلیواټه ظرفیت په تولید پیل کړی او اوس ئې یوه پایه ۳۰۰ کلیواټه ظرفیت لري او یو ماشین ئې د ترمیم په حال کښې دی .

المانی ام،ای ډیزلی دستګاه:

دغه دستګاه په ۱۳۴۲ کال کښې ودرول شوه تولیدی ظرفیت ئې ۲۵۰ کلیواټه ؤ .

درې زره کلیواټه نوی ډیزلی جنریټرونه:

په دې وختونو کښې د کندهار د بریښنا د تقویې له کبله دوې پایې ډیزلی جنریټرونه چې ټول ظرفیت ئې ۳۰۰۰ کلیواټه دی د امریکې څخه راوړل شوی او په کار ولویدل.

د کندهار په بریښنا کوټ کښې ډیزلی ټانکونه چې ۵۴ زره ګیلنه ډیزل د بریښنا د ډیزلی ماشینونو د پاره ذخیره کوی



د کندهار د بریښنا کوټ په سب سټیشن کښې د سرکیټونو یوه برخه

اوس په کندهار کښې د نویو امریکائی ډیزلی جنریټرونو په ګډون د نو دوه دستګاؤ څخه په یوه ساعت کښې ټول ۴۸۰۰ کلیواټه بریښنا تولیدیږی .

امید شته چې په راتلونکی وخت کښې دیوه (۵۰) کلیواټه ډیزلی ماشین او د فیل کوه د یو بل ماشین د ترمیم له کبله به د کندهار د اوبو او ډیزلی بریښنا د تولید ټول ظرفیت ۵۶۰۰ کلیواټو ته لوړشی.

د کندهار د بریښنا په مرکز کښې یو سب سټیشن شته چې د ۱۳۰۰۰ کلیواټو بریښنا ظرفیت لري او په یوه وخت کښې دهغه له شپږو سرکیټونو څخه یلو بیلو ځایونو ته بریښنا ویشله کیږی.

په دې سب سټیشن کښې د ۵۴۰۰۰ ګیلنو تیلو د ذخیره کولو په ظرفیت درې لوی ټانکونه هم درول شوی دی .

په اوسنی وخت کښې په ټول ښار کښې بریښنا هر شپه بې له نوبته چالانه وی او د ورځې له خوا هم د ژرندې خاوندان، د موټر ترمیمونکی او داسی نور خپلې دستګاوې په بریښنا سره چلوی او د صنایعو په برمخ بیولو کښې کار ځنی اخلی.

(نور په ۱۷ مخ کښې)

دغه رنګه په ۱۳۴۸ کال کښې د کندهار د میوې د شرکت څخه ۲۵۰ کلیواټه ماشین راانیول شوی او په کار واچول شو ، د ای،آی،ډی څخه ۴۰۰ کلیواټه ماشین او د روسی جنریټر څخه ۵۰ کلیواټه بریښنا لاس ته راځی، د سرک جوړولو له دوو پایو جنریټرونو څخه ۵۰۰ کلیواټه بریښنا تولیدیږی .

کندهار او سږ ئې پسرلی

داچی سړی دی مزه نه لری بهار
درته ته ښائی خوږ نرم د کندهار

که هر څه شاؤخوا گوډم بیخو ندی ده
نه دی خوند سته ذما ښام نه دسهار

به صفت دی دهیچا مړیده نه وه
چی به محضی وو تیرسوی ستا پرلار

همسری دی د جنت سره کوله
هغه وخت دی ؤ لقب (دار القرار)

اوس لذت دخواږه ژوند در پکښې نسته
نه هغه دژوند ده د کټ لیل ؤ نهار

چی عذاب دی به ښکاره پکښې گنډلی
داسی پوښ دی نن پر تا باندی هوار

داژه نه وایم دلوی ؤ کم آوازدی
چی معدن سوې دتکلیف او دآزار

که دی سړی څوک معرفی راشخه غواړی
ستا به باب دې د(ویران) دغه اظهار

(ویران)

ظرافت:

دنوابغو پیژندگلوی

یو وخت چی (چارلی چاپلین) دسینما نامتو لوبغاړی د ریاضی دپوهاند (اینشټین) سره لیدلی وه چارلی ددې ملاقات یوه ښه خاطره لری :

اینشټین وچارلی ته ویلی وه داچی ته به ټوله جهان کښی مشهور ئی وجه ئی داده چی به ژبه دی خلک پوهیږی (یعنی د چارلی د هنر به ژبه)

چارلی چاپلین ورته وویل: چی شهرت داخبره نه غواړی ځکه ته هم به دې نړی کښی دژبات شهرت ځښتن ئی لیکن به ژبه دی څوک نه پوهیږی یعنی داینشټین د ریاضی به ژبه).

ژباړه

ولوږ گلوټه

مرتب: ویران

و،ن

کشکی.....

کشکی خال ستا د تندی وای یا د ذنی
چی پر مخ دی ځلیدای ښکلی میرمنی
یا ښکرې دی وای به سرو پستو لاسو کی
یا دی گل وای پر کمیس یا پر بوډنی

گلرخان د رومی سبا میلی ته

گلرخان د رومی سبا میلی ته
بابا ولی ته ، څوک سر پوزی ته
حیران پرلاړی زه شمس الدین یم
چی پورته د رومم که مخ وکښې ته

سپینه خوله بده

ښکاریږی په ښکنځلو

سړی بد ښکاری دلاس په لګولو
سپینه خوله بده ښکاریږی په ښکنځلو
چرونده ګه غوندی پښې مه نیسه آسمان ته

داهیڅ نه دی د آسمان د ګینګولو
شرمښکی چی نیوای نه شی له لګی نه
ښا مادانو ته ورځې بې دمولو
چی آسونه نملوی ورسره ښائی

نه چو نګښه چیرته ده د نملولو
که بوډاپر گل کړیږی ورته ښائی
نه کاڼه که چی وکړیږی پر سرو گلو
داوینادی طالب جانه داسی خوند کا
لکه خوند کاندی شبنم پر ژیړو گلو

ادبي نثر:

دټاګور اثر

پسرلی نژدې شو او زما د سر سپین ویښتان د ژوندانه په خزان وهلی بڼ کښې قدم وهی.

زما د باړخوګانو خیرنی ګونجی د پرونی رنګو څخه حکایت او د پیړیو نکلونه کوی.

په سر کښې می تاج د پسرلی، د شګوفې په څیر را غونډ شوی او د پښو د نفیسو پاغندو په شان ئې لکه هاله زما باړخوګان په ما بین کښې نیولی دی.

وږمه چی چلیږی تار، تار ته ئې حرکت ورکوی او کله هغه پورته کی او ګاهی ئې بیا کښته کی ته چی وا دا سپینی پاغندې د مرګ حدیث بڼغوی او د فنا او مخ کښې زما سره خبری کوی او غواړی چی د هغو د تارو څخه زما د سبا کفن تیار کړی او فریاد ووهی.

مه راځه چی د خزان وهلې سړی لپاره لکه ته، نور پسرلی مفهوم نه لری.

د پیغلی ثریا (بارك) ژباړه

«رازقی»:

پرخه شه

پرخه شه او په خپلو پستو څاڅکو د تنکیو غوټیو او ښکلو ګلونو تنکی مخونه پریمینځه.

کله چی د اوږدې شپې توری تر بڼمی د آسمان له پراخو څنډو څخه ټولیږی او کله چی د اوچت افق په کنارو کښې د نوی ورځی سباوون مخ پټونی کوی د مځکی او سیدونکو سره.

او کله چی د سپینو ستورو سترګکونه ورکیږی او د دغوی ګڼی قافلې د آسمان په چور کښې تری تم کیږی.

پرخه شه او د نرګسو شوګیر وهلی سترګې له خوبه پریمینځه.

د بلبلو په وزرونو باندی سړی او به وښنده راویښی ئې کړه چی د ګلونو پر نریو څانګو باندی د بیدارۍ سندری شروع کړی.

پرخه شه، او د مځکی په لوی، وړو مخلوقاتو یو شان وورېږه او ځان د برابری په زړه پوری مثال کړه.

کله چی شپانه خپلی رمې د تورو غرونو په لور بیائی او د رمې د سر کښې غږ، پخپل خواږه آواز د خوب جاډو ما توې.

پرخه شه، او په تازه وښو وغوړیږه، د ریدیو او غاټولو په پاڼو کښې د ملغلرو زړه وړونکی څیرې ښکاره کړه.

پرخه شه، او د سهار د نسیم سره سړی او خوږې وږمې د ښایست د جهان سپیڅلی سوغات یوسه.

هغه چا ته چی نوی ورځې ته د نوو فکرونو او نوو ارزوګانو سره راویښ شوی وې.

د نور و ادب

د هارونی ژباړه:

بادؤ باران

ته زما په تلاش را رهی وې.

پرلار د توند بادؤ باران سره مخامخ سوې.

دې بادؤ باران ستا په عزم کښې هیڅ خلل نه ؤ پیښ کړی او هغسی زما د غریبانه کور پرخوا را روانه وې.

ما ستا په هیله او انتظار و دروازې ته دواړه سترګی نیولی وې.

د دې بیره را سره وه چی بادؤ باران به بیرته پښیمانه کړې ئې ځکه چی هم شپه وه، هم بادؤ باران ؤ.

څو زما انتظار پای ته ورسیدی او په خټو کښې ستا د پښو بڼغ زما ترغوږ شو.

ته په باران لنده خیشته خپل ټاکلی ځای ته را ورسیدې نو لازمه وه چی تر هر څه د مخه ستا کالی وچ شی.

ما پخپله خونه کښې ستا د کالو دوچیدو او ستا د تودوالی د پاره اور نه درلود.

یوه شمع می لګولې وه چی په هغه نه ستا کالی وچیدله او نه ته په تودیدلې.

ستا د کالو دوچیدو د پاره می د باد څخه مرسته وغوښته او د خونی کړکۍ می خلاصی کړې.

تا خپل کالی چی ښایسته دی هم جوړ کړی وه ودې ته آماده کړه چی په باد ئې وچ کړو.

خو باد تر هر څه د مخه هغه لګیدلی شمع را مړه کړه او تاریکه ئې جوړه کړه.

زه ؤ ته او ستا د کالو دوچیدو او ستا د تودیدو فکر سره پاته سولو.

غ ، ایوبـزی :

هنر او خطاطی :

د کندهار یو ځوان هنرمند په ټوکر

هنداره، آهن چادر، پلاسټیک او لرگی

باندی په شپږ شکله خطونو په مشقی او جلی خط ښکلی سرلوحی لیکی

بریالی عزیزی د کندهار یو ځوان او نامتو سرلوحه لیکونکی په خپل فن کښی ډیر مهارت لری دی او وه ویشت کلن دی او د شپږو کلونو راهیسی ئې په دغه هنر شروع کړی او د مخه تر هغه ئې د ګنډلو د ګل دوزی په ماشین باندی د خامک دوزی چاری پرمخ بیولی ، خو خپل ذوق دی ته واداره کړ چی د سرلوحو په لیکلو او جوړولو کښی پوره مهارت وګټی .

نوموړی چی راسته پښه ئې په وړ کتوب کی ګوډه شوی وائی چی ما د کندهار په مشرقی ښوونځی کښی تر شپږم ټولګی پوری درس ووایه خود بدمرغه په دغه وخت کښی د بایسکل څخه ولویدم او چپه لاس می مات شو نو د ښوونځی څخه ووتم ، یو څه موده په ګل دوزی او اوس په مشقی او جلی خط د سرلوحو په لیکلو لګیایم .

ښاغلی عزیزی چی لیک په چپه لاس کاږی په ټوکر، هنداره، آهن چادر، لرگی او پلاسټیک باندی په پښتو ، عربی، دری، کوفی، طغرائی او انګلیسی شکلونو مشقی او جلی خط لیکی او ډیری ښکلی سرلوحی جوړوی .

دی وائی چی طغرائی مشق یو څه راته مشکل او انګلیسی خط راته اسانه دی نو له دغه کبله د طغرائی مشقی لیک د سرلوحی اجوره تر نورو ډیره ده .

دی د خپل دغه هنر استا د خپل ذوق بولی او د ښوونځی په دوره کښی ئې د لیک او رسم د مضامینو سره زیاته علاقه درلوده ، خپل دغه ذوق او د خلکو تشویق دی ته واداره کړ چی په شخصی مغازه کښی د سرلوحو په لیکلو پیل وکړی .

نوموړی وائی سر بیره پردې چی زه د خپل دغه هنر سره زیاته مینه لرم د اقتصادی پلوه هم ماته په زړه پوری دی او ماته له دغه درکه څخه د میاشتی دری زره افغانی لاس ته راځی او ښه ګذاره می په کیږی .

بریالی عزیزی پرته له شخصی مغازی څخه د مځکی د سروی او احصائیی په ریاست کښی د نقشو او پلانونو د توحید ولو د ګرافو د خطاطی په کار اخته دی د ښاروالی او ځینو نورو مؤسسو د پاره سرلوحی جوړ وی او د خطاطی فرمایش ئی منی .

دی وائی زه د کورنی ژوند په هکله اقتصادی مشکل نه لرم او د خپلو ورځنیو عایداتو څخه یو څه پیسی راپاتیږی او غواړم چی په آینده کښی د خپلو عایداتو له لاری د نورو هنرونو او هنرمندانو د لیدنی لپاره تر هیواد د باندی سیاحت وکړم او د خپل دغه هنر د انکشاف د پاره نوی شیان راوړم .

(پاته په ۱۷ مخ کی)

ښاغلی بریالی عزیزی د سرلوحی لیکلو په وخت کښی

« د ۱۳ مخ پاته »

داو بو او ډیزلی بریښنا...

د کندهار د ښاری شبکی کار په سلو کښی ۹۸ بشپړ شوی او تراوسه پوری یوزر میټرونه د کورونو څخه ایستل شوی او پر عمومی پایو باندی نصب شوی او دغه کار دناوړه ګټی اخستلو مخ نیوی کوی، دغه رنګه د ښار په بیلو بیلو واټونو کښی د اوسپنی نوی ستنی درول شوی او د لویو طاقتونو نوی مزې غزول شوی دی.

په کندهار کښی د شپی له خوا د کورونو او بازارونو د روښانه کولو نه پرته زموږ خلك ماشینی ژرندی، او ځینی نوری صناعتی چاری هم په بریښنا سره پرمخ بیائی، او هر کله چی وروسته تر څلورو کلونو د کجکی د اوبو د بریښنا لویه او قوی شبکه په کار واچوله شی نو به د کندهار او هلمند په ولایتونو کښی سربیره د صناعتی فعالیتونو په زیاتولو واټر پمپونه هم په بریښنا سره چالانه شی او په دې ډول به د دغو سیمو د مځکی لاندی اوبو څخه د کرنی په براختیا او د زراعتی حاصلاتو په لوړولو کښی کار واخستل شی او په دې ډول به بریښنا زموږ د خلکو د اقتصادیاتو په لوړولو کښی ستره اغیزه وکړی.

ژباړه:

د بریښنا د قوی فشار

په واسطه په موسیقی کښی آنقلاب

المانی موسیقی دان «ردشونر» د الکترونیکی وریځو د موسیقی د منځ ته راتلو په لار کښی نوی طریقې په کار اچولی دی، نوموړی د المان د یو بل نامتو موسیقی دان «اشتوکهاوزن» په څیر د موسیقی د معمولی آلو څخه کار نه اخلی بلکه د الکترونیك څخه د آهنګ په ویلو کښی استفاده کوی.

«شونر» په دغه هکله د «موك سینتزایر» امریکائی الکترونیکی دستګاه ته تکامل ورکړی دی.

دغه دستګاه کولای شی ۱۲ ملیونه ږغونه منځ ته راولی.

المانی موسیقی دان په دغه هکله یو نیم کال خواری وکښی او دادی اوس ئې لومړی پاڼه د هارمونی انهدام په نامه تهیه او وړاندی کړې ده او دغه نوی پاڼی د موسیقی ټول سرحدونه د مخه وړی دی.

«شونر» خبریالانو ته وویل: په دغه نوی طریقه کښی هغه موسیقی دان بریالی دی چی د موسیقی په فن پوره وپوهیږی او هم باید د بریښنا د قوی فشار د تخنیك په هکله پوره معلومات ولری.

(د ۱۶ مخ پاته برخه)

یو ځوان هنرمند...

زموږ دغه ځوان سرلوحه لیکونکی د کوټو او خونو د ښکلا د پاره د رسامی په زړه پوری منظرې او پرهندارو باندی د قرآن عظیم الشان د مقدسو آیاتونو ښکلی نمونې هم لیکی.

ښاغلی عزیزی په خپل کار کی کوم مشکل نه لری او په راتلونکی وخت کښی غواړی چی دغه فن ته نور هم انکشاف ورکړی او ځینی داسی مواد تهیه او په کار واچوی چی د سرلوحو په لیکلو کښی د زیاتو خلکو توجه ور واړوی.

ده وویل: چی په شپږو کلو کښی ئې تقریباً شپږ زره سرلوحې لیکلی او خلکو ته وړاندی کړی دی.

دی وائی زه د کندهار دا ډول هنرمندان ستایم خو وایم: که چیری دغه ملګری د نوموړی فن له مخه خپل فن پرمخ بوزی ښه به وی، او د دغه کار د پاره د کورس پرانستل به زیات استعدادونه وروزی.

بریالی عزیزی په خپل دغه هنر کښی ځینی شاګردان روزلی او اوس هم دده تر روزنی لاندی یو تکړه شاګرد لری.

ښاغلی عزیزی د یوه ځوان په حیث د ځوانانو د اوسنیو بیځایه موډ، فیشن او نزاکتونو څخه آزرده دی او وائی: که افغانی ځوانان او پیغلی د علم او عصری روزنی په وسله مجهز او اجتماعی خدمت د لاری د دې هیواد د پرمختګ د پاره ملاوتړی هیواد ژر تر ژره پرمخ ځی.

پیغله قمره (اشکزی):

دلرغونی افغانستان

په ټولنه کی د ښځو د حقوقو ارزښت

دښځو د مقام ارزښت په افغانی ټولنه کی د تاریخ د سیر او حرکت سره سم تحول کړی او هغه ته تاریخ لری.

د ویدی د عصر د نغمو په استناد چی د افغانی کلچر خوراېخوانی ریکارد دی او د ۳۵۹۰ ق، م را په دې خوا افغانی تهذیب او تمدن د وښانه کوی نو په هغه وخت کی د دې خاوری میرمنو یواځی په نامه د خپلو نارینو څخه توپیر درلود خو په

اجتماعی چارو او د خلکو په خدمت کی یی ګډون یو شان ؤ.

په هغه زمانه کی هم واده د کورنی د تشکیل وسیله او کورنی بیا د ټولنی اساسی واحد ؤ، هغه نو واده د اصلی او مذهبی وظایفو یو جزؤ چی دا یی یو طبعی او مقدس امر باله، واده به عموماً د عشق او د مینی په اساس ؤ او هغوانانو به د سپیڅلی

اوړشتنی مینی په وجه خپل د ژوند ملګری ټاکی مینه او محبت یی د زوم او ناوی د سعادت د کورنی د بنسټ د ټینګولو وسیله ګڼله هغه چی په دې اساس دوی کولای شوای خپل د ژوند چارې په ګډه او ښه توګه سرته ورسوی.

د هغه وخت میرمنی بی قید و بنده ژوند درلود او د خپلو نارینو په اړه به ئی سم په کښتو او د غرو په لمنو کی په تیره بیا په ملی میلو کښی چی (ساماته) نومیده

برخه اخستله په د غو میلو کښی به هر چا د خپل ذوق او کسب سره سم نمایشونه ورکول ښځی او نارینه به سره د اغوندې شول د پهلوانی لوبی، د آس ځغستنا، شعرونه، غزلی نڅا، اټنونه او نوری خوشحالی به وی له دغه ځایه به زیاتره پیغلو او زلمیو د بل سره خبرو اترو ته ښه وخت پیدا کاوه او بی له قید او شرطه به آزادانه ګډول به یې

خپل د مینی او ژوند ملګری وټاکی د دواړو موافقه او رضایت د واده اوی او اساسی شرط ؤ خو د واده اختیار او واګی د ښځو په لاس وی د هغو پیغلو چی بی له مینی څخه به ئی د چا سره بې ژوند تیره کاوه او د واده کاوه به ټولنه کښی

د خپلو همزولو له خوا به لوی بیغور تهدیدلی او ټولو به ګرکه ځنی کوله هیڅ یا به ستر ګه نه ورته کتل د غه راز هغه پیغلو او زلمیانو چی د تجرد به حال کښی ژوند کاوه هم د چا په نه ایسیدل.

یعنی د ویدی په عصر کی واده او د کورجوړول یو حتمی کار ؤ د وی به ویل ښځه او نارینه به ژوند کی د غشی او لیندی به شان وی چی بی له لیندی څخه کار نه اخستل کیږی.

د ښځو مقام او احترام د هغه وخت د سرود او نغمو څخه یو هیدای شو، د هغه وخت نارینو یواځی یوه ماندینه کول او هغه به ډیره پر ګرانه وه د خپلی ماندینی سره به ئی تل مینه درلوده او یو بل ته یوه وفاداره وه خپله مینه او محبت به ئی د

ژوند تر پایه ساتی. ښځو به حتی تر مرګ وروسته د میړه سره وفاداری کوله او د هغه مینه یی په زړه کی ساتله او د هغه د دوستی

په ویاړ به تل د هغه په کور کی وه هیڅکله به یی د خپل میړه کور نه پریښود دوی به د میړه او ماندینی محبت او علاقه داسی بیانوله:

(زوم ناوی داسی تعقیبوی لکه لمر چی د روښانه شفق پسی راوزی) بل داچی (ښځه د میړه په کور کی د قطب د ستوری په څیر تل ثابته ده) او یا داسی به ئی ویل:

د نجلی مقام د هلک سره مساوی دی هیڅ توپیر وجودنه لری او یو بل ته سپک او کوچنی نه ښکاری د دوی اولاد نجلی او هلک په یوه رنګ تربیه کیدل او

د میندو او پلرو په نظر به یو شان ؤ پر دوی خپله پیغله ګرانه وه او هغه به ئی د کور ستوری باله، دا پوره دلیل دې چی د ښځو او نارینو

تعلیم او تربیه یو شان ؤ د هغه عصر د یولی شعرونو څخه لکه چی ښه ښکاری (ویسومیترا) د هغه وخت رشید عالم د ښځو به باب داسی وایی:

(نور په ۲۲ مخ کی)

ژباړه:

الکتر و نیکی تدریس

نړی دډیر ویخوانیو وختو راهیسی دپښتو نکو له کمبود سره مخامخه شوی، او ددغه مشکل دله منځه وړلو دپاره بیل بیل هیوادونه دتکنالوژی د

پوهانو په مرسته کوښښ کوی چه په دی کار کی بریالی اوسی.

دادی په دی وختو کی د الکتر و نیکی وسایلو یوی

کمپنی داسی یوه نوی دستګاه جوړه کړی د، چه دهغه په واسطه یو ښوونکی کولای سی په یوه ساعت کی خو قولګیو ته چه په هر ه یوه قولګی کی ۲۵ تنه

شاګردان وی دس ورکړی.

دا به داسی تر تیب چه ښوونکی دیو غرسونکی دستګاه ترشاولاړ، او به تدریس شروع کوی.

شاګردان له خپل ښوونکی څخه داستفادی کولو دپاره هر یو دیوی مخصوص ګوشکی په لرلو، او دمخامخ تلویزیون له صفحی څخه استفاده کوی

څه وخت دمخه دغه تر تیب دامریکا په ښو ونځیو کی تر استفادی لاندی نیول شوی او

ډیره چه نتیجه ئی ورکړه او هم دمشکلاتو پیدا کیدو په وخت کی شاګردان کولای سی له هغو میکروفونو څخه چه غوږ وتړئی نو دی دی له ښوونکو څخه پوښتنه وکړی او خپل جواب واخلی.

ژباړه:

یوه تابلوپه

دوه ملیونه پونډه خرڅیږی

اډل (هاروو) دخپلو ملګرو په مشوره تصمیم نیولی دی چه دتیتیان دنقاشی یو ښکلی اثر

چی به هغه کی د (اکتایون) د مرګ صحنه تمثیل شوی ده (له نیشنل ګالری) څخه چی لس کاله هلته په امانت ډول

ایښودل شوی ؤ راوباسی.

دغه اثر به د جون په میاشت کی ددوو ملیونو پونډو په بیه به خارج کی خرڅ کیږی.

ژباړه:

کاغذی بطری

ډیرژر به دیوی خریلو یو داسی نوی ماشین بازار ته راسی چه د کاغذی بطریو په واسطه کار کوی

ددی ډول بطریو تهیه کوونکی دامریکا کمپنی او به اطمینان سره ئی ویلی دی:

د دغه ډول کاغذی بطریو

یوه دانه پنځه دقیقی ډیر ښه کار ور کوی، یعنی د یوی ډیری اصلاح یوه کولای سی.

دکاغذو بطری له ناز کو کاغذو څخه جوړی شوی، او ترنورو معمولی بطریو ئی امتیاز

دادی چه غټی او درنی نه دی او علاوه پردی که چیری سبنا

پاته په ۳۰ مخ کی

ژباړه:

نیمکله فلم

د (کی، آصف) ترمړینی وروسته د (محبت او درخدا) فلم نیم بشپړ پاته شو.

د یو تازه خبر له مخی (دلیپ کمار) تصمیم نیولی دی چی دهغه فلم پاته برخه هم مطلقاً په خپل ډاګر کشن سره بشپړه کړی.

دیو بل خبر له مخی د کی آصف د و همه ښځه (نګار سلطانه) د آصف استو دیو د خپل محان او ذا ښو مال بولی نو ددلیپ کمار ددی اقدام پر ضد ئی مربوطو مقاماتو ته رسمی شکایت کړی دی چی تر اوسه ئی نتیجه نه ده څرګنده شوی.

ژباړه:

دنفر پر ځای عکسونه

په دی وختو کی د مشهوری لوبغاړی (نرګسی) وداره سرور حسین دانور حسین زوی له هغی نجلی سره چی د دوی د کورنی خوښ وه رسماً بیه بمبئی کی واده وکړ.

انور حسین چی د ۲۲ کلونو راهیسی په سینمائی چارو کی مصروفیت اسری د خپل زوی دواده له کبله خوښ دی. لیکن له دی سببه چی خورئی (نرګسه)

د هغی ناروغی په سبب چی ورپیښه وه دغه واده ته حاضر یدلای نه شوای خپله خواشینی څرګنده کړی وئی ویل: څرنګه چی خورمی (نرګسه) بی

اندازی راباندی ګرانه ده نو ځکه می دزوی د واده په شپه ددی عکسونه هری خوا ته خوړند کړه څو چی دواده مجلس بی (نرګسی) ونه بلل شی.

ژباړه:

د نړۍ ډیر کوچنې رنګه

تلویزیون

په دې وختو کې د نړۍ د الکترونیکي کوچنیو وسایلو جوړیدو په لړ کې یو ډیر وړو کې تلویزیون چې په عین حال کښې ټرانزستور هم ذي د جاپان د مشهوري (سوني) کمپنۍ په واسطه جوړ شو.

دغه کوچنی او ښکلی تلویزیون چې د (٦) انچه تصویري چراغ لرونکی دی، وزن یې (٩) کیلو او قیمت ئې لږ و ډیر د (٣٢٠٠٠) افغانیو په حدودو کښې دی پدغه تلویزیون کې له یونوي اختصاصي برق څخه چې د نورو رنګه تلویزیونو له تصویري بریښنا سره زیات توپیر لري علاوه پر هغه د لوړي سطحي په کنج کې یو آنتن هم لري چې له هغه څخه په آزاده هوا او حتی په موټر کښې د ننه هم استفاده کیدلای سي.

او حتی که یې د اوسیدو په اطاقو کښې تصویر صاف نه وي کیدلای سي چې د هغه آنتن له هوایي آنتونو سره یو ځای شوي او کار ځنې واخستل شي.

ژباړه:

پلاستیکي کورونه

دوه زرم کال به بیله کومه شکه یو عجب او د حیرت وړ کال وي ځکه د ننني نړۍ ډول ډول وسایل به دومره تغیر ومومي چې هر سړی به له ډیر حیرت څخه په فکر کښې ورک کړي.

په دغه کال کښې یو له هغو شیانو څخه چې شکل به ئې نسبت ننني شکل ته ډیر تفاوت پیدا کړي د کور جوړول دي.

ځکه پوهان همدا اوس په زیاتو کوښښو سره د کور جوړولو د پار د ډول ډول نوو وسایلو په اختراع بوخت دي چې له همدې نوي وسایلو څخه یو پلاستیک دي دغه ماده د خپل تغیر کونکي خاصیت په علت په چټکي سره کولای سي چې د زیاترو ننني وسایلو ځای ونیسي.

له همدې کبله پوهانو تصمیم نیولی دي چې له هغو څخه د راتلونکو کورو په جوړولو کښې استفاده وکړي.

پلاستیکي کورونه چې د ١٩٩٠ تر ٢٠٠٠ کاله پورې به د استفادې د پاره منځ ته راسي وزن یې خورا لږ او کیدلای سي چې هر کور په دوو هفتو کښې جوړ کړه سي.

دغه پلاستیکي کورونه به د راتلونکي ژوند په ټولو لازمو وسایلو سره مجهز وي.

(د ١٩ مخ پاته)

کاغذي بطري

د یو زیات وخت د پاره استفاده ځنې ونه سي وروسته بیله دې چه ذخیره انرژي ئې له منځه ولاړه سي کار کوي او هم یو مهم ټکي دا دي که د کاغذي بطري یو د لږ انرژي د جبران د پاره د هغه ځودانۍ سره یو ځای سي.

کیدلای سي یو موټر چه بطري ئې خلاصي شوي وي د هغه د روښانه کیدو د پاره کار ور څخه واخیستل سي.

د یوي کاغذي بطري وزن د (١ر٠) او نسو په حدودو کې دي او د پوره استفادې د پاره ئې په کار ده چه بطري تر استعمال د مخه باید په اوبو کې داخله شوي او بیا استفاده ځنې وسي.

ژباړه:

د سیمون هنري آثار

خرڅلاوته ولویدل

ښاغلي نورتون سیمون د امریکې د لاس انجلس یو معتبر، او نامتو شته من، چې د خپل ځان د یوې خاصي مؤسسې مؤسس او د صنایعو له خاوندانو څخه دي د هنري آثارو له ټولولو سره ډیره علاقه لري.

ده په دې وختو کې تصمیم نیولی دي چې د خپل ځان یو شمیر هنري پارچې چې د هغو تخمیني بیه پنځوس ملیونه ډالرو ته رسیږي د لیلام په ډول خرڅې کړي.

د ښاغلي سیمون د خرڅولو وړ پارچې او تابلوګانې چې د ١٩ قرن د نقاشي او رسامي د استادانو نمونې بلل کیږي شمیر ئې (٧٠) ته رسیږي.

سیمون د خپل ځان د قیمت لرونکو هنري دارایي د یوې برخې خوڅولو دلیل داسې څرګند کړ چې:

زما هنري آثار خورا زیات او غواړم چې د هغو یو شمیر په خپله خوښه خرڅ، او په عوض کې ئې نور نوي هنري آثار لاس ته راوړم.

خو ځنې خلک د سیمون د آثارو د خرڅولو دلایل داسې بیا نوي:

١: څرنګه چې سیمون له سیاسي مسایلو سره زیاته علاقه لري نو غواړي چې د زیاتو پیسو په لاس ته راوړلو سره د امریکا په راتلونکو د برسر اقتدار حکومت د اعمالو پر ضد مبارزه شرع، او د ده د خوښي وړ مربوطو مؤسسو سره مالي کومکونه وکړي.

سیمون په تیره کال کې د دؤ ملیونو ډالرو په مصرفولو سره مؤفق نه شو چې د دغه هیواد په کانګرس کې د جمهوریت خواه د سناتور په حیث د ښاغلي (جاج مورفي) د ټاکلو مانع سي.

٢- ښاغلي سیمون له ښځې څخه تر جلا کیدو وروسته د اوسیدو یو کوچنی ځای نیولی او نشوای کولای چې خپل ټول آثار او تابلوګانې په مرتبه توګه سره په خپل نوي ځای کښې وساتي.

(د ۹ مخ پاته)

د بودجې د تنظیم روشونه

پخوا مو وویل چې بودجې لومړی د دولت له خوا د یوې لایحې په څیر تنظیم او د پارلمان له خوا تصویبیږي، ذلته ډیر مهم ټکی دا دی چې دا بودجه د اجرائیه قوې له خوا په څه ډول باید په مصرف ورسول شي؟

البته د بودجې برآورد د اداري مامورینو د نظریاتو او د هغو د اطلاعاتو او معلوماتو په سیوري کښې صورت مومي اما د حکومت وظیفه دلته دا ده که چیرې د اداري مامورینو له خوا د بودجې په برآورد کښې کوم تعصب، جاه طلبي او یا نوري حرفوي یا شخصي انګیزې په کار وړل شوي وي باید دعوا ملو د حکومت یا کابینې له خوا په ښه توګه تشخیص شي دا خبره د پوهانو له خوا ثابته سوې ده چې وائي:

بودجه د زرها و مامورینو د تصمیم نتیجه ده دا لایحه چې د دوی د تصمیم په اثر ترتیبیږي هومره غټه لایحه وي هر کله چې کابینه هم د وروستي تصمیم ځای دی د تاثیر لاندې راولي اما دا چې بودجه د عامو ښیګڼو لپاره جوړیږي باید هغه ټول تصمیمونه پکښې په دقت مطالعه شي.

ومو ویل په دې عصر کښې د بودجې ښه پرمختګ په علمي مسایلو سره دی یعنې د بودجې د تنظیم په روشونو کنترول او د عمومي لګښتونو نظارت کول چې دا ټول علمي تحقیقات او مطالعات غواړي چې د هغو په اثر د دولتي مؤسساتو عملیات او پلټنه ئې چې په دې هکله کیږي ډیره اسانه کړی ده ومو ویل د بودجې علمي مسایل یعنې د بودجې د تنظیم روشونه، کنترول او په عمومي لګښتونو نظارت کول علمي منشا او اساس لري اما تر اوسه پورې هغه قاطع او مطمئن مدرک چې د هغه په اساس دولت وکولای ټول عواید په ښه توګه په هغه ټاکلي پروژو باندې وویشي په لاس کښې نشته.

خو یوا ځنې لاره ئې تر اوسه پورې د پوهانو په نظر داده:

چې د هرې پروژې عملیات د مثال په توګه که یوه د او بولګولو پروژه یاده شي باید دغه ټکی وسنجول شي چې په یوه متر مکعب خاوره کې څو تنه او په څو ورځو کې هغه مخ ته تلای شي او هر چا ته د هغه د لیاقت او د کار د استعداد له رویه څرمره اجوره ورکړه شي.

بیانو ټوله دغه پروژه څومره متر مکعب کار لري او څومره کارګرو ته په څومره اجوره ضرورت دی.

دا کار اسانه نه دی بلکه ورځنې ټول اقتصادي شرایط باید مطالعه او بیا ټولې پروژې ته یوه اندازه بودجه پیش بیني شي په دې ډول اوس لږ څه د پروژې د سرته رسولو لپاره او د هغه د لګښت ټولو نقاطو د پیش بیني لار اسانه کړی ده.

په زیاتره مخ په انکشاف مملکتو کښې دا نظریه منل شوی ده چې دولت باید په ټولو خپلو عمومي مصارفاتو کښې سپما وکړي او په دې ډول هیواد ته د اقتصادي بحرانو څخه نجات ورکړي.

دا خبره د منظور وړ ده خو نن بودجه جوړول د مالي شرایطو او اقتصادي سیستمو لاندې د اسې تنظیمیږي چې لومړی باید هره پروژه په عملي توګه د عملیاتو له نظره د اسې دقیقه او په غور وسنجول شي چې په پیش بیني کښې هیڅ ډول تفاوت پیدا نشي.

اوس په هر دولت کښې د مالي قدرتو د زیاتوالي موضوع او دولت د بیلو بیلو مؤسساتو د فعالیتونو تنظیم او پر اختیا لپاره د اقتصاد دلاري پیش بیني د توجه وړ ګرځیدلی ده دوهم دا چې د اداري عالمانو په نظریه دا خبره منل شوی ده چې باید اجرائیه قوي ته د بودجې په تنظیم او خرڅولو کښې زیات اختیارات ورکړه شي ځکه نن د دوی په نظر بودجه هغه یوازنۍ وسیله ده چې د دولت د پروژو د تثبیت او تنظیم او د دولت د دستګاؤ د مالي احتیاجاتو د پوره کولو لپاره پکار اچول کیږي.

دا خبره د نړۍ د دوهمې جګړې وروسته په ښه توګه ثابته او روښانه شوه چې د پیسو د لګښتونو کنترول او یا په لګښتونو کښې سپما دومره زیات تاثیر نه لري لکه چې لومړی په هره پروژه کښې د انساني منابعو قوه او د هغې څخه په علمي توګه استفاده کول د وسایلو او ملزوماتو تهیه کول او ساتل ئې د هرې پروژې په عملیاتي حسابو کښې د پخوانه ښه محاسبه او پیش بیني ئې وشي.

وموویل د انسانی منابع یا انسانی قواؤ څخه استفاده کول زما منظور دادی چی باید اجرائیه قوه وپوهیږی چی پدغه پروژه کښی څنګه کارګر او پرسونل ته ضرورت دی، ټولی وظیفی تجزیه او تحلیل شی چی

داوظیفه څه خصوصیات او شرایط لری او هغه کارګر چی هغه وظیفه ئې ایجابوی د مختلفو منابعو څخه پیدا کړی د علمی موسسو یا د نورو فابریکو روزل شوی ځوانان استخدام کاندی او بیا هروخت خپل پرسونل

د نوی انکشافاتو، اختراعاتو او یا علمی مسایلو باندی د اخبارو، مجلو او یا د کوم سیمینار له لاری باخبره او پوه کاندی ترڅو دهغو د بشری قوې څخه په علمی توګه استفاده وشی.

ځکه نن دا خبره نه یواځی د اداری د علم پوهانو ته بلکه ټولو وګړو ته ثابته شویده، هرهغه حکومت چی د پرسونل په استخدام او یا د پرسونل په مقرری او تبدیلی کښی د پوره عدالت او ښه قضاوت څخه کار

وانخلی او هره وظیفه دهغو اهل ته ونه سپاری او یا ځینی کسان چی پوره استعداد او لیاقت ولری هغه ته ښه کار د اختیاراتو سره ونه سپاری، هغه حکومت نه یواځی پخپلو وظیفو کښی بریالی کیدای نشی بلکه ورو، ورو د مملکت افراد د ناامیدی او مایوسی خواته ځی.

د مثال په توګه به دا خبره عرض کړم: که په یوه موسسه کښی تقرر او تبدل یا د استخدام لیاقت او استعداد، نیک سوابق، د کار سوابق، تجربه او علمیت په نظر کښی ونه نیول شی او هر څوک خپل اشنا، قوم

همسایه د ځینو غیر رسمی ارتباطاتو په پیژندګلوی په ډیره لویه وظیفه چی هغه ئی په هیڅ صورت لیاقت ونه لری استخدام کړی، پدې تقرر د موسسی د مستحقو کارګرو او پرسونل د کارکولو احساسات ضعیفه او له منځه ځی

او پدې ډول د ټولو نورو کارګرو او اداری کسانو د عدالت حس جریحه داره او تل به پرته له شکایته بل کار ونه کړی.

اوس قضاوت وکړی چی د هغه پروژې کامیابی به د لګښتونو په سیما کښی متصوره وی او یا به د پروژې په عملیاتو کښی دقیقه پیشبینی او په علمی توګه د هغی حساب او سنجول؟

د ژوندانه لار

علم یو داسی لوی نعمت دی چی په ژوندانه کښی د افتخار تاج او ترمرګ وروسته یو روڼ یادګار دی.

حضرت علی «ك»

که سره راغونډ شو دا آغاز دی، که سره راغونډ پاته شو دا پرمخ تګ، او که په ګډه موکار سره وکړ دا بریالیتوب دی.

د لرغونی افغانستان.....

(د ۱۸ مخ پاته)

(ښځه ستاسو کور دی).

د دغی لنډی جملی څخه د ښځی مقام، ارزش او د هغه واقعی احترام معلومیږی که څه هم په هغه زمانه کښی د کور تنظیم، د ماشومانو روزنه او تربیوی شعرونه

دویدی په عصر کښی د ښځو وظیفه وه بیا هم د ماندینی حقوق او امتیازات د میړه سره مساوی ؤ او ښځی یوازی ځان د کور په چارو مکلفه نه باله بلکه د نارینو

سره به ئې په جګړو او نورو ممهو چارو کښی هم برخه اخستله په جرګو او لویو مجلسونو کښی ئې ګډون کاوه.

تاسو به دا ثابته وی په هر مملکت کښی هر هغه پروژه چی نتیجه ئی نامطلوبه وی او یا د هغه په تکمیل کښی خنډونه او یا ناکامی منځ ته راځی یواځنی عامل ئی په لګښتونو کښی اسراف دی.

نو اوس له همدې کبله دی چی د بودجی په تنظیمولو کښی نوی روشونه یعنی د بودجی تنظیم د کلونو د پلان په شکل او د بودجی تنظیم د عملیاتو په شکل او اساس تر بحث لاندی نیول کیږی.

۱: د بودجی تنظیم د پلان په شکل.

۲: د بودجی تنظیم د عملیاتو له رویه.

باید بودجه په هر مملکت کښی د دولت د وظایفو او د ټولو فعالیتونو په اساس جوړه شی چی د هغی د رکول او پوهیدل د پارلمان غړو، لیکوالو او عامه خلکو ته ډیره اسانه وی او هر حکومت به ئی د کاغذ په مخ باندی په ډیر ښه صورت او اسانه توګه په لږ وخت کښی تنظیم کاندی.

پښتو کونکی تیمور شاه (صالحی):

«۲»

په افغانستان کښی د مواصلاتو نقش

بله لویه او مهمه لار چی د کندهار څخه تر هرات او شوروی اتحاد د سرحدو پوری غزول سویده (۶۸۰) کیلومتره اوږدوالی لری دغه مهمه لار چی په د جنوبی او لویدیځو لارو کی د شوروی اتحاد په کومک سره

بشپړه شوی ده لګښت ئی (۱۱۹) ملیونه ډالره دی چی (۷۵۱) ملیونه افغانی کیږی د اسلام کلا د لاری جوړیدل چی په دریم پنځه کلن پلان کښی په نظر کښی نیول سوی ؤ د آسیا د لویو لارو څخه ګڼل کیږی د دې مهمی لاری سروی او نقشه اخستل په (۱۹۶۳) کښی او ساختمانی

کارونه ئی د (۱۹۶۶) د اګسټ په (۲۷) د امریکا د بین المللی انکشافی مؤسسی په مرسته شروع شول د الار چی (۱۲۴) کیلومتره اوږده ده سور ئی (۹،۹۰) متره پخته کاری او (۴،۲۰) متره اسفالت شویدی د دې

مهمی لاری په اوږدو کښی د (۱۵۳) مترو په اندازه یو کانکریټی پل پر هری رؤد ودان شوی او (۲۲۴) پلچکان جوړ سویدی او د دې پروژی د مجموعی لګښتونو څخه (۲۶۰) زره ډالره پر مقدماتی سروی (۶۸۱۲۹) ډالره د نهائی سروی او د ساختمانی کار د مراقبت لپاره او

(۹۲۸۷۷۱۲) ډالره د پروژی په ساختمانی چارو کښی په مصرف رسیدلی دی چی په دې ترتیب د هغه عمومی لګښت (۱۰۲۳۰۰۰۲) ډالرو ته رسیدلی دی په داسی کال کښی چی ټول لګښت ئې لومړی (۱۲،۶۵) ملیونه ډالره یعنی د واقعی لګښتونو څخه زیات اټکل شوی ؤ د دې لګښتونو

د جملی څخه (۹۴۲۲۹۰) ډالره د امریکا د مرستو د لاری (۸۷۶۷۱۲) ډالر. د افغانستان د حکومت له خوا او (۸۴۱۱۰۰) ډالره د امریکی د متحده ایالاتو د څلویښت کلنی پور د جملی څخه دی د دې پروژی په جوړولو کی

د افغانی کارګرانو تر ټولو زیات شمیر (۱۴۷۰) تنه او کم شمیر (۹۵۴) تنه شمیرل شوی دی په داسی حال کښی چی د امریکا ئې متخصصینو شمیر (۲۷۹) تنه او د نورو هیوادو (۳۱) تنه ؤ.

په هر صورت د دغی ګټوری ساختمانی پروژی کار

لس میاشتی د مخه تر ټاکلی مودی یعنی د (۱۹۶۷) کال د اکتوبر په (۱۵) نیټه پای ته ورسید.

نو ویلای شو چی اوس افغانستان تر (۲۰۰۰) کیلومترو زیات قیر شوی او یا کانکریټی لاری لری چی په لاندی ډول سره راوړل کیږی:

هرات - اسلام کلا (۱۲۴) کیلومتره (۱۹۶۷)

کابل - شیرخان بندر (۴۰۵) کیلومتره (۱۹۶۵)

کابل - کندهار سپین بولدک (۶۰۴) کیلو متره (۱۹۶۶)

کابل - تورخم (۲۳۲) کیلومتره (۱۹۶۵)

کندهار - توره غونډی (۶۸۰) کیلومتره (۱۹۶۴)

پلخمری - مزار شریف، تاشقرغان (۳۶۱) کیلومتره چی اوس هم کار پر کیږی.

د دغو لارو په جوړولو سره د افغانستان ډیر مهم ښارونه یو د بله سره ونښلول سول سربیره پر دغو لارو د کوچنیو او فرعی لارو د وهمه او د ریمه درجه سړکونه د جوړولو په برخه کښی هم تصمیم نیول شوی دی د اکار تر ټولو لومړی هغو سیمو ته متوجه دی چی د لوئې لارو د کړیو څخه لیری پرتی او د اداری تأسیساتو، تشکیلاتو خارجی او انفرادی مواصلاتو څخه ګوښه پاته شویدی

د ډیر وخت څخه د اښکاره شویده چی د اسی پلان په لاس کښی دی چی د آسیا د بین المللی لارو په استفاده یوه مستقیمه رابطه د هیواد د ختیځو او لویدیځو سیمو تر منځ د هندوکش څخه په تیریدو سره شروع شی خو بیا هم ډیر مالی او تخنیکی مشکلات په مخ کښی سته.

د سړکو د جوړولو اصلاح او تقوئی پروګرام په افغانستان کښی ډیر مهم دی د دې جهته چی د یوی خوا په هیواد کښی د اوسپنی لار نه شته او د بلی خوا د دې خاوری رودونه د مالونو د وړلو راوړلو د پاره مساعد نه دی.

د هیواد د غرنیو خصوصیتو په نظر کی نیولو سره هوائی ترافیک هم په دغه هکله ډیر فعال نقش لوبولی دی په (۱۹۵۵) کی یو افغانی هوائی شرکت (د آریانا) په نامه

پرانستل سو چی وروسته ئی خپل فعالیت د (ډی سی) دری الوتکو په واسطه شروع کړ.

په عین حال کښی دهوائی الوتنو د انکشاف په منظور دامریکا دمتحده ایالاتو سره یوتړون وسو ددغه تړون سره سم د امریکا بین المللی انکشافی مؤسسی (۹۵۰۰۰۰۰۰) ډالره دگرانت په شکل دافغانستان ددولت په اختیار کښی کښیښو دل د امریکا هوائی شرکت چی پان امریکن په نامه یادیږی د(۱۹۵۷) کال په اپریل کښی په آریانا افغان هوائی شرکت کښی په سلو کی د(۴۹) سهمونو درلو دلوسره ددرو نورو تړونو شریک شو په لاس لیک کی چی د(۱۹۵۹) کال د می په میاشت کی وسو دامریکا دولت خپل پور زموږ دهوائی پروژو دانکشاف په منظور و (۲۱) ملیونو ډالرو ته ورساوه اوسربیره پردی (۵) ملیونه ډالره ئی دپور په ډول افغانستان ته ورکړل دغه کومکونه په لومړی گام کښی دنوی ماشینو د رانیولو دهوائی میدانو دجوړولو اودتخنیکی پرسونل دروزلو دپاره منځ ته راغلل په دغه وخت کښی دآریانا افغان هوائی شرکت دوی (ډی سی شپږ) الوتکی دوی (ډی سی څلور) څلور (ډی سی دری) اویوه (۴۴) دکانویرا الوتکی رانیولی دی دآریانا افغان هوائی شرکت تیر کال یوه لویه مسافر وړونکی (۷۰۷) جټ الوتکه دامریکا د متحده ایالاتو څخه رانیوله او په بین المللی الوتنو کی یعنی هغو کرښو کښی چی د کابل، تهران، بیروت انقری فرانکفورټ، لندن اوماسکو ترمنځ دی په کارواچوله.

په لومړنی پنځه کلن پلان کښی یوزیات شمیر هوائی میدانونه دهغو دمربوطو دستگاؤ سره جوړشول چی د هغو دجملې څخه یوهم کابل ته نژدې دبگرام هوائی میدان دی، دکابل بین المللی هوائی میدان دشوروی اتحاد په مرسته په ۱۹۶۳ کال کښی جوړ اودالوتنو وړ وگرزید.

دکابل مرکزی موقعیت دا ایجابوله چی خارجی الوتنی به د هند، پاکستان، ایران، لبنان و په اوسنی وخت کښی د اروپا د قارې او همدارنگه دافغانستان داخلی الوتنی منځ ته راشی سربیره پردې دکابل هوائی میدان د شوروی اتحاد د ایروفلوټ الوتکو دهوائی الوتنو دپاره چی د ماسکو څخه حرکت کوی اوهم د اروپا دهوائی کرښو سره هم ارتباط پیدا کوی.

دکندهار بین المللی هوائی ډگر دامریکا دمتحده ایالاتو په مرسته پای ته ورسید، ددغه میدان څخه د جت الوتکو دپاره استفاده کیدای شی. دغه میدان د هغو ساختمانو د جملې څخه دی چی په عمومی توگه تراوسه دهغه څخه اعظمی استفاده نه ده شوی، ددې جهته چی ددغه میدان اقتصادی اوتخنیکی اساسات داسی جوړ شوی دی چی د ډیرو اروپائی بین المللی هوائی شرکتو توجه چی دختیځ اوآسیا دجنوب ختیځ وخواته دکراچی له لاری الوتنی کوی را جلب کړی.

په هرحال د ماهوائی ډگر چی پخپلو تخنیکی وسایلو اومناسب موقعیت ښائی دهیواد دآینده هوائی چارو په انکشاف کښی لوی سهم ولری دکندهار بین المللی هوائی ډگر ټول لگښت ۱۲۹ ملیون ډالرو ته رسیږی.

د سیمه ایزی هوائی الوتنو دپاره په کندز، هرات مزارشریف، جلال آباد، غزنی او لښکرگاه کښی عصری هوائی میدانونه جوړشوی دی.

دباختر افغان دالوتنی د مؤسسې پرانستل دملکی هوائی ریاست ترچوکاټ لاندی په ۱۹۶۷-۱۹۶۸ کال کښی دوې دانې (تربو) جټ الوتکی دکاناډا څخه رانیولی اوهم ئې یوشمیر کوچنی هوائی میدانونه په بدخشان، بامیان، روزگان، غور او نیمروز کښی چی دطبیعی او اقتصادی موانعو په نسبت دهیواد دپایتخت اونورو صنعتی اوتجارتی مرکزونو څخه لیری واقع دی شروع شول.

د لومړی پنځکلن پلان دتطبیق په مرحله کښی د ۱۹۶۱-۱۹۵۶ حمل ونقل اومواصلات په جدی توگه په نظر کښی نیول سوی وه پدې پلان کښی په مجموعه توگه ۱۵ ملیارده افغانی یعنی درې چنده لگښت محاسبه شو او هغه هم پداسی حال کښی چی تقریباً په سلو کښی ۶۰ لگښت په لومړی پنځکلن پلان کښی د حمل ونقل دکرښو او سړکونو په جوړولو کښی لگیدلی دی.

افغانستان دلومړی پنځکلن پلان دتمویل اودځینو کریدتو ورکولو دپاره ۲۱۷ ملیونه ډالره دامریکا څخه حاصل کړه خو یوازی ۱۹۱ ملیونه ډالره دهغو

«پاته په ۲۵ مخ کی»

د انډیوال ژباړه :

د خارجي منابعو څخه :

په جراحي عمل د روماتیزم علاج

تر اوسه پوري لاهم زیاتره هغه کسان چې په روماتیزم اخته دي نه پوهیږم چې په جراحي عمل د روماتیزم علاج کیږي .

په لویدیځ المان کښې د ماینتز د پوهنځي د جراحي کلینیک اوس د داډول جراحیو مرکز دي .

(د ۲۴ مخ پاته)

څخه مصرف شول .

د لومړي پنځکلن پلان په پای کښې د افغانستان د دولت داوږدي مدې کریدت :

د پورونو مجموعه ۲۱۶۹۳۲۴۰۰ ډالره .

مصرف شوی ۱۹۰۷۰۷۶۶۱ «

د تادیې وړ ۲۸۱۹۴۴۲۴ «

د ۱۹۶۲ کال په جنوري کښې پاته ۱۶۲۵۱۳۲۳۷ ډالره .

همدا رنګه د دوهم پنځکلن پلان په جریان کښې ۶۷-۱۹۶۲ د هیواد مواصلاتو ته پاملرنه وشوه پدې معنی چې د دغه پلان د ټولو انکشافي لګښتونو د جملې څخه چې د ۲۵ ملیارد و افغاني سره برابر دي ۹،۶ ملیارده

یعنی په سلو کښې ۳۸ ئې د مواصلاتي سیستم په ساختمان کښې مصرف شوي دي .

افغانستان د پنځکلن پلان د شروع او مالي پروژو د انکشاف په تطبیق کښې د خارجي کومکو او پورو څخه مستفید شویدي .

د افغانستان دولت پخپل بیطرفه سیاست او د هیواد د انکشاف په لار او آبادي کښې د هغو وسایلو په لرلو سره چې په لاس کښې ئې دي بیا هم وکړای شو چې د نړۍ د صنعتي دولتو څخه لازم کریدتونه او کومکونه په لاس راوړي .

شوروي اتحاد ، د امریکا متحده ایالاتو او د المان اتحادي جمهوریت خو په هغو کښې د دغو پروژو په انکشاف کښې فعاله برخه اخیستي ده .

همدغه رنګه د پورته حقایقو په روڼا کښې ویلای شو چې دغه دوره په افغانستان کښې د مواصلاتي لارو په پرمختګ کښې یو لوی انقلاب ؤ . «پای»

د هغه بر بالیتو بونو په تعقیب چې له کبله حاصل شوي دي په نظر کښې دي چې د ویسبادن او کرویتز باغ د کانی او بو د دووښارونو ترمنځ په یوه مناسبه سیمه کې

یو مخصوص کلینیک د روماتیزم د علاج د پاره جوړ کړي او په هغه ځای کې به ډاکتران وکولای شي د روماتیزم د علاج د پاره د بیلو بیلو طریقو او په دغه جمله کې د جراحي څخه کار واخلي .

د روماتیزم د جراحي په عمل کې ، مخاطي غشا د ناروغ د مفصل څخه جلا کوي او په دې ډول د مفصل د رنځ او درد د دوام مخ نیول کیږي .

د ماینتز د پوهنځي په کلینیک کې په تجربه رسیدلی ده چې هر کله په یو مفصل باندې د جراحي عمل اجراسي پر نورو مفصلونو باندې چې د روماتیزم درد ولري ښه اغیزه کوي .

په ماینتز کې چې کوم جراحي شوي دي د روماتیزم د ردونه ئې د منځه وړي دي . حتی په هغه وخت کې چې د روماتیزم د ردمزمن او څوکلن وي او د مخاطي غشا

ایسته کول دغه درد د منځه یونه وړای شي د مصنوعي مفاصلو په واسطه ئې علاج کوي ، دا ځکه تیر کال یو ځای د ګوتو ۸۰ مصنوعي مفلونه پیوند شوي دي .

دغه رنګه یو زیات شمیر ناروغان د پلاستیکي او فلزي مفصلونو په واسطه چې په ورنو کښې ئې پیوند شوي دي د روماتیزم د درد او تکلیف څخه خلاص شویدي .

د نورو افکار

هغه څوک چې پر نورو باندې اعتماد ونه لري تاسو هم باور ور باندې مه کوي . «شکسپیر»

نیکمرغه هغه څوک دي چې په سختیو او بده ورځ کښې خپل ځان ونه بایلي . «پاسکال»

د زړښت او سپین ږیر توب د شپې لپاره ښائي چې د ځوانۍ په ورځ کښې ډیوه پیدا کړو .

«افلاطون»

د غزنوی محمود ترڅو ماندې

لاندی چی افغانان

دوهمه پلا پر هند ورغله

اود لرګو پر شاوخوا د
وګرځیدله پرهرو څو قدمو به
یووار دلرګو کوڅی ته ودرنوډي
سوله اوهره پلا به ئې دصنوبر یوه

خاشه دځانه سره اخیستله بدي
ډول ئې څوخاشی واخیستلی او
به هغه لګیدلی مشعل ئې ولګولی

بیا بداسی حال کښی چی د مرګ
سرودئی وایه دلرګو کوڅی ته ئی
څو ځایه دا لګیدلی خاشی ور
وغورځولی .

هګه چی لرګی اکثر وچ
او ځینی غوړ هم وه ډیر ژر ئې
اوروا خیست خوشبو یه دود او لمبه
ځنی بورته سوه .

هغه متین او باعزمه (جیپال)
د دود او لمبی به منځ کښی ورک
سو ددې دپاره چی که (جیپال)
مقاومت دلاسه ورکی او ناری ؤ

بغاری جوړی کړی دډول ؤ سورنا
به ډغولو هم بیل وسو خوددې
ناري وانه وریدل سی .

دده مقاومت ته حاضرینو
تعجب وکی او هیڅ فریاد ئې وانه
وریدل سو .

مرموزی ښځی هغسی سرود
وایه دډول ؤ سورنا ډغ فضا نیولی
ده کرار کرار دودان او لمبی
سره ورتلی چی آخر ئی دلرګو

دکوټی څخه یوه سره غوړه که
جوړه کړه دلته یو بل ډغ چی هغه
داور دلمبی ډغ ؤ هم پیدا سو او
لمبه مخ بر آسمان رهی وه څه آن
وروسته ذ ډول ؤ سورنا ډغ

و دروول سو، او قوله حاضرین
بدي انتظار وه چی یا اور کښی د
(جیپال) د سر ذ چاودلو ډغ
واوریدل سی چی دا به دده د
ګناهانو د بخښلو او دده د
پاکیدو نخښه وی .

قوله خلك هك حیران ولاړ
ستر ګی داوښکو ډکی او د غم ؤ
خواشینی آثار دقولو په بڼو کښی
دوړا ښکاره وه . بدي وخت کښی
دچاودلو یو ډغ په اور کښی
واوریدل سو او قوله وپوهیدل
چی جیپال تطهیر سو .

ترڅو چی دغه اور او جیپال
په ایرو تبدیلیدل هیڅوك له خپله
ځایه ونه ښوریدل او قوله به یو
جهان چیتیا کښی ولاړ وه کله چی

اورمړسو او په ایرو کښی وکتل
سوه یواځی هغه د زړو چوکی
پاته وه .

د جیپال زوي (آنندپال) د
چوکی وخواته ورتیر سو او په
لوړ ډغ ئې وویل چی :

ورونو !

هیله لرم چی دا زما دپلار فدا کاری
او قربانی قبوله وګرځی ولاړ سی
سپاهیان آماده کړی چی سبا سهار پر
دښمن ورسو (سلطان محمود) هم باید
دغسی به اور کښی وسوځل سی .

افسران، سردارانو او قوله حاضرین
چی ددې بیخی ترسخت تاثیر لاندی
راغلی وه دا ځای ئې پریښودی او
غچ اخیستلو به نیت روان سوه چی دخپلو

لښکرو سره یو ځای سی او دجګړې به هغه
تیاری او حمله کښی برخه واخلی کومه
چی دافغان محموه پر لښکرو به کیږی .

(آنندپال) دهغی مرموزی ښځی
وخواته ورغی دائی ترلاس ونیول او
خیمی وخواته ئی بوتله او لدی څخه ئی
وغوښتل چی مخ دی لږ کړه .

ښځی آنندپال ته وویل چی :

ای امیره ! ته بدی یوه سه چی زما
بڼه ښکلی نه ده زما لیدل به ستا دپاره
بدمرغی راولی ستا پلار چی هر وخت زه

لیدلم نتیجه ئی دا سوه چی به جګړه
کښی ئی ماتی وخوړله که ته هم به دی
باره کښی ګډګار وکړی او زما مخ
وویني ښائی چی به هغه شوم سرنوشت به

اخته سی لکه پلار چی دی ورسره مخامخ
سو، به خبره داده چی د پلار دعاقبت
څخه عبرت واخلی .

دښځی دی وضعیت د آنندپال سوه
نو ده هم بسی ژباته کړه لیکن لدی بیری

چی رشتیا به د یوه شوم عاقبت سره مخامخ سی په ډیر زحمت لدې خبری څخه تیر سو چی د مرموزی ښځی مخ دی ووینی.

آنندپال چی له یوی خوا د پلار د مرګ په غم اخته ؤ د بلی خوا ئی پدې کښی فکر بند ؤ چی په څه ډول ددې ښځی مخ ووینی ځکه دد. دا خیال ؤ چی دا ښځه به بد رنګه نه وی او برخلاف ددې دوینا به یوه ډیره ښکلی ښځه وی.

په عین حال کښی د آنندپال سره دا بیره هم وه چی د ښځی په لیدلو به رشتیا د یوه شوم سرنوشت سره مخامخ سی بالاخره ئی داسی تصمیم ونیوی کله چی دده هندی سپاهیان د جګړې ډګر ته ځی دغه ښځه دی هم پر هغه فیل چی آنندپال باندی سپریږی کښینول سی.

نو ئی پر فیل باندی یو زرین تخت کښیښاوه او د څلورو نیزو په توسط ئی یو سایوان هم پر نصب کی او پدې ډول ئی آنندپال او مخ پټی ښځی ته ځای ورجوړ کی.

هندی ځوانان او لښکری افسران چی د جیپال مرګ خروښولی وه ډیر تاوده د افغانانو د لښکرو و مقابلی ته په تیاری بوخت وه.

د بلی خوا غزنوی محمود چی د جاسوسانو په وسیله ددې تیاری او آمادګی څخه اطلاع درلوده نو څلویښت ورځی د مخه ئی خپلو لښکرو ته امر کړی ؤ چی پر خپله اردوګاه باندی یو ژور خندق راوګرزوی ځکه که دا خروښیدلی لښکریان چی تعداد ئی د محمود تر سپاهیانو (یو په پنځه او یا) بالا ؤ پر افغانی سپاهیانو راړهی سی مبادا چی د ماتی سره به مخامخ سی

بالاخره جګړه ومښتل او د افغانی زړورو ځوانانو واری لکه باران پر هندی سپاهیانو شروع سول.

د مقابل طرف څخه هم ډیره سخته حمله روانه وه.

آنندپال خپلو لښکرو ته وویل چی هر څه مو پلاس درځی خندق ته ئی اچوی چی د محمود د لښکرو خوا ته د تیریدو لارو سی.

سره د دغه شلیک چی د افغانانو له خوا پر هندی لښکرو شروع ؤ دوی سپرونه پر سرو نیولی وه او په خندق کښی ئی لاری وکړی، جګړه خپل نهائی شدت ته ورسیدل او له دواړو خواؤ انسانان لکه واښه چی ریبل کیږی پر مځکه لویدل.

آنندپال پر یوه لوی فیل سپور هغه مرموزه ښځه ئی ترشا سپره وه د جګړې په قوماندہ بوخت او د خپلو سپاهیانو د بری موقع ته ئی انتظار کیښ.

ښځی چی پر فیل ئی د سایوان یوې ستنی ته تکیه کړی وه په ډیر حیرت او تعجب کی وه چی آنندپال ولی دا له ځانه سره ګرزوی.

د آنندپال په عین حال کښی دا خبره په زړه کښی وه چی دا ښځه به کله لخ مخ روینم.

د جګړې په ډګر کښی چی ځوانان د دواړو خواؤ راچپه کیدل او دوینو رود جاری ؤ یوه ډیره وحشتناکه منظره ئی په وجود راوستلی وه.

غزنوی سلطان محمود چی دا حال او دا قتلګاه ته متوجه ؤ د آس څخه را کښته سو او د لایزال خدای په وړاندی ئی سر پر سجده کښیښوی او د لوی خدای څخه ئی د بری التجا کول.

لدې وروسته ئی بیله بیری په ډیره مړانه پښه پر آس واړول او خپلو سپاره لښکریانو ته ورغی او دوی ئی یوه زورور یرغل ته آماده کړه او د هغه پیاده سپاهیانو په مرسته ئی چی لکه پسونه وژل کیدل وروستل.

افغانی ځوانان چی په لومړی سر کښی لا د بری د پاره هند ته ورغلی وه د جګړې ټوله وس ئی په کار واچاوه جګړه هغه حد ته رسیدلی وه چی همدغه ورځ ئی آخره وه، مات او فاتح په همدی ورځ معلومیدی.

آنندپال فتح د خپلی خوا په نصیب بللی وه او دا ئی یقین ؤ چی افغانان مات سول ځکه ده چی د جګړې صحنی ته نظر واچاوه افغانی لښکریان ئی پخپلو لښکریانو کښی ورک وه.

اوس نو دا وخت ؤ چی که آنندپال د هغی مرموزی ښځی مخ ووینی څه بد مرغی به ونه وینی او ددې خبری موقع تیره سویدله نو مخ ئی د ښځی ته وروګرزاوه او کوښښ ئی وکی چی حجاب څخی پورته کی پر فیل سر بیره د دوی کش مکش شروع سو ښځی کوښښ کاوه چی آنندپال لدی کاره منصرف کی ولی د آنندپال ټوله کوښښ پدی کښی ؤ چی حتماً به ښځه وینی.

پدی کشمکش کښی د سایوان یوه ستن د تخت څخه خطا سوه او د فیل پر بدن داسی ومښتل چی هغه ئی خورا خوږ کی. فیل په څغاسته شروع وکړه او پداسی حال کښی چی شائی جګړی

(نور په ۳۰ مخ کښی)

د مولانا «حبیبی» تتبع او لیکنه:

د شطرنج او نرد اصل واضع

له ډیره وخته څخه په اوسنی او پخوانیو خاصو او عامو انسانانو کی د شطرنج او نرد لوبی باب، او د هر صنف وګړی د خپل ساعت تیری او تفنن د پاره دا دوې بازی کوی او خوښ ئې لری.

لیکن ما ته په ځینو وختو کی چی ځینی انسانان په بازی د شطرنج ډیر لګیا او چمتو ووینم دا آیت شریف سمدستی را په یاد شی.

«من عمل صالحاً فلنفسه ومن اساء فعلیها»

په حقیقت کی دا آیت شریف ممکن ډیر حکم په بر کی ولری لیکن په بادی کی د ذکر ئی سړی اړیږی چی پر تله ئې کی چی زه ښه کوم او که بد؟

انسانان خپل اعمال او افعال یا مشغلی ټوله نه ښه بللای شی او نه بدی او کله چی دا آیت شریف چا اوریدلی او په یاد کی پاته وی ممکن دوباره له تمیز څخه د ښه له بدو څخه هیڅکله غافل نه وبلل شی. ځکه چی یو باعث که انسان ته وجود ولری کله بیا داسی کیږی چی انسان خپل عمل د ښه او بدو له قراره بې کنترو له پریږدی.

اوس له دې وروسته غواړو د هر صنف د انسانانو د پاره په باب کی د شطرنج او نرد یو څه مفصل ولیکو په تیره دا جوته کو چی دلته په دی لوبو کی شریعت څه فرمائی او تاریخ دلته څه دی؟ او دا لوبی د چا څخه بیا تر اوسه په موږ کی را نقل او موږ ئی د کوم علت او د کوم حرمت د مخه څخه پالو او پر لګیا یو؟.

په موږ کی طبقه د خواصو البته په دې لار کی علمی، تاریخی معلومات ښائی ولری او د دې لوبو مصلحت او فساد هم په شرعی او اخلاقی لامل ورته معلوم وي لیکن عوام لکه نور کارونه چی یوازی د خپل بی لګامه شوق او ذوق په اثر کوی او منی، چی نور نو ښه او بدو ته د هغونه لتفت کیږی. ودې سی چی په دې باب کی هم بیله خپله عامیانه ذوق بله مدعا او غرض هیڅ ونلری. نو د دې د پاره چی عوام هم یو څه په دې ډول لوبو د شرعی او تاریخی نقطه نظره خبر شی دا دی دلته زما معلومات او تتبع ممکن په حدودو کی د قناعت د عامو وګړو یو څه خدمت کړای شی اوس تاریخی برخه د شطرنج او نرد دلته وا روی:

عجب نومی واضع د شطرنج صصته بن داهر، او په آصح روایت یو حکیم هندی ؤ چی د پاره د یلهیت ئې بلهیت وضع کی او د وضع منشأ ئې هم دا وه که چیری ملوک فارس فخر وکی پر ملوک هند په وضع کولو د نرد له طرفه څخه دا ردشیر پادشاه او په دغه سبب نوم د نردشیر د بازی د ده په نسبت وټاکل شو وروسته له دې څخه د شطرنج وضع دغه نوموړی حکیم وکړه او حکم ئی وکی ټولو حکماوته د هغه عصر د شطرنج په فضیلت کښی په نرد شیر باندی او پادشاه هم افتخار وکی لدې څخه چی د ده د پاره شطرنج وضع شو وروسته پادشاه حکیم واضع ته وویل: په دی عربی تعبیر «تمن علی ما ترید» یعنی په عوض کی د شطرنج هره تمنا چی لری له ما څخه ئی وغواړه. حکیم جواب ورکی چی حکم دی پادشاه وکی چی په اولو خانو کی درهم وی او دغه درهمونه دی یو په دوه شی تر پایه پوری د خانو. پادشاه تمنا د حکیم ډیره سپکه وبلله او وی ویل: عقل دی زما را فاسد کی هغه چی تا وکړه. وزیر وویل: ای پادشاه پریږده چی طلب د حکیم دونه دې چی ستا خزانی او خزائن د ملوکو ټوله هلته صرفیږی.

پادشاه په اوریدو د وزیر د کلام په تعجب کی شو او وې ویل حکیم ته چی ستا تمنا عجب تره ده ستا تر صنعت او ځینی روایت کوی چی نوموړی حکیم په بدل کی د دراهیمو ئی د غنمو دانی درلودې. څو چی آخره خانه د بساط د شطرنج متفرقه شوه غنمو ته دا وو اقلیمو، او ځینی بیا فضیلت ورکوی نرد ته پر شطرنج له دې جهته چی د نرد واضع ئې یو مثل وګرزاوه د پاره د دنیا، نو ئی د ولس خانی وګړی لکه شهور

د کال او وویشل شوی څلورو قسمو ته په ډول د فصلونو د کال او شمیر د ټکرانو دده د یرش دی لکه د میاشتی ورځی او هغه

ویشلی سپینو او تورو ته لکه د میاشتی، روځی، شپی او شمیر د نګینو د هغه شپږ دی لکه جهات سته او شمیر د هریخوا د نقطو د

نګینو د هغه اوه دی لکه د مځکی طبقی، د آسمان، د افلاکو، سیاره نجوم، ایام الاسبوع او شمیر د هغه چی حاصلیږی له هغه نګینو څخه د قلت او کثرت لکه قضائی او قدرتی،

د بازی ګر تصرف څرګندوی حسن اختیار دده، او دده عقل او دوه جودت او زیرکی تر داسی حده پوری چی د شطرنج بازی، په پای کښی له نرد سره شراکت پیدا کی، والله اعلم.

د شطرنج د تسمیی وجه

شترنګ په ګاف فارسی پر وزن او معنی د شطرنج او دا یو معروفه او مشهوره بازی ده چی

حکیم دا هر «هندی» یاز وی دده په زمانه کښی د نوشیروان اختراع کړیده.

(ابوزرجمهر) په برابری کښی د دې بازی (نرد) جوړ کی او شطرنج معرب، د هغه دی او د محققینو په نزد نرد اشاره

(جبر ته) او شطرنج (اختیار ته) ده او خلک ئی یوه ګیاه هم بولی او هغه داسی ګیاه ده چی اکثراً د چین څخه راځی او دا دی پټه نه وی چی شطرنج په هندی کښی د چترنګ اصل ؤ. په زور د فارسی

جیم او په پیښ د تای قرشت او په زور د را مهمله او د نون په سکون او د فارسی کاف په سکون چی معنی ئی څلور ګونی اندامونه او هغه عبارت له فیل، آس، ارابه

او پیاده څخه بلل کیږی، او فارسیان پیښ (د تا) حذفوی شطرنګ چی معرب د شطرنج دی وائی او بولی ئی.

په نفایس الفنون کښی لیکی چی هغه بعینه دلته لیکو: چی واضع د شطرنج صصته بن داهر چی یو د هندی حکما و څخه دی او څرګندون ئی لجلاج کړیدی چی دده له زامنو څخه ؤ.

او بل سبب هم دا ؤ چی ملک ته د ملوکو د هند چی په محاربه او په جهانګیری او مبارزت اخته ؤ یو علت پیښ شو چی پر آس سپریدلای

نسوای، او ډیر متعذر ؤ نو ئی حکما او زیرکان حاضر کړه او ورته وی ویل: غواړم چی یو تدبیر یوه چاره، یو فکر وکړی چی

بیله دې څخه چی پر آس سپور شم په حرب او کارزار سره مشغول سم. او لدی علت څخه خلاص سم لجلاج وویل: تدبیر د دې کار له ما څخه دی څو چی ولاړ شو او کورته

ولاړی او شطرنج ئی حضور ته د ملک راوړی، او کیفیت د لعب ئی وده ته عرض کی ملک لره دا وضعیت ډیر خوښ شو او دی ئی

و نازاوه او له ده څخه ئی دا برد او باخت زده کی همیشه په مشغول ؤ څو چی وفات شو او له ده څخه یو څوک چی د تخت لائق وی نشو پاته مګر یوه ښځه چی دده څخه حامله

وه او هغه ښځه په اتفاق د مهترانو د ملک په تدبیر د مملکت مشغوله سوه څو چی وعده د وضع حمل راورسیده او زوی ئی وزیږاوه.

ملکې نوم دده شاه کښیښووی او تربیت ئی کاوه چی لوی سو محاربی ئی شروع کړی او ټوله مملکت د پلار ئی په تصرف کښی راوستی او هریخوا ته

چی بی قصد ؤ فتح او ظفر دده ؤ، پسله یو مدت څخه په ځینو محاربو کښی مجروح شو او پدغه سبب وفات سو او هیچا لره دا مجال نه ؤ چی حال دده

ملکې ته عرض کی یو د لویانو څخه چی د شطرنج په بازی خبر ؤ یوه روځ ده ته ورغی او دی ئی ډیر ملول ولیدی او سبب د ملالت او تکدر دده د زړه ئی سوال

و کی ملکې وویل ډیر مدت کیږی چی د شاه یو خبر لا هم نه راغی او معلومه نده چی دده حال به وڅه ته رسیدلی وی. دغه لوی سړی وویل: ملکې ته دی معلومه وی

چی اشغال د پادشاهی او مهمات د جهان ګیری له مشقت څخه د سفر او له حدت څخه د غربت او له هدت څخه د تکلیف چاره نلری او پدې اثنا کښی د محاوری

حکایت د لعب د شطرنج ئی ضمناً وکی او ملکې لره لدې څخه یو شغف حاصل سو او لده څخه ئی وغوښتل چی شطرنج حاضر کی او دی ته ئی ورزده کی څو چی هغه شطرنج حاضر کی بازی د شطرنج

ئی وروښووله او پدغه بازی ئی اخته کی تر څو چی په باخت کښی استوار سو یوه روځ ئی له ده سره شطرنج کاوه ملکه غالبه سوه نا ببره شاه پورته سو

ځکه چی شاه ځای ندرلود ملکې وویل شاه مات دی هغه لوی سړی وویل ملکې ته دی بقاوی ډیر وخت کیږی چی دا حالت پیښ سو او چا لره هیڅ قدرت نه ؤ

چی دا خبر دی اعلام کی څو چی د ملکې څخه پخپله تلفظ وشو ملکې لره احوال دزوی معلوم سو او په واسطه دشطرنج هغه هائله واقعه

اسانه سوه او لدغه وخت څخه شطرنج دهند په ښار کښی نشر سو لیکن دایران په هیواد کښی څوك پدې بازی مطلق نپوهیده

او داسی هم ویل سویدی چی سبب دراوړلو دشطرنج ایران ته داؤ چی ملك نوشیروان ته راورسیدی او آوازه دفضل او دانش دحکماؤ

چی دده ملازمین وه اطرافو ته منتشره سوه یو دپادشاهانو څخه دهند چی دده معاصرؤ په ډول دامتحان ئې آلات دشطرنج سره

دتحفو او هدیو نوشیروان ته ولیږل او نامه ئې ولیکله چی زموږ یو ډول زیرکانو پدغه ترتیب او وضع استخراج کړیدی نو که

دهغه ځای اوضاع داسی وی لکه ددې ځای راولیږی نوشیروان او ملازمانو دده ځکه چی دا وضع ئې نه وه لیدلی لدې عهدې څخه نه

وواته او بزرجمهر حکیم په هغه زمان کښی په بند کښی ؤ وروسته ئې تاسف وکی او دی ئې وغوښتی هغه وخت چی بزرجمهر حاضر سو

نوشیروان له ده څخه عذر وغوښتی بزرجمهر وویل: پادشاه چی پر بنده په غضب سی باید له ده څخه یوشی وغواړی چی بیرته رحیم

سی او هغه شی به بیرته ورکی.

نوشیروان خجل سو.

بزرجمهر وویل: دپادشاه په دولت کښی تراوسه په سترګو کښی زما یو څه روښنائی لا پاته

ده.

نوشیروان پدې خوشحال سو او شکریه ئې وکړه او هغه سړی ئې طلب کی هر کله چی راغی او شطرنج ئې بزرجمهر ته عرض کی: بزرجمهر وویل:

راسه چی زه ئی له تا سره وبازم.

وروسته هغه سړی راغی یو نیمی شطرنج ئی کښیښووی او

بزرجمهر هم دده په مقابل کښیښووی.

اول لاس او دوهم لاس ئی قایم کی (پورته کی) او غالب سو

وروسته کورته ولاړی او «نرد» ئی استخراج کی.

ځینی وایی: نرد دمخه تر شطرنج هم ؤ لیکن هغه وخت

«کعبتین دوه وه» او لعب د فاء دوخانه ئی وکې او یو کعبتین او پنځه منصوبی نوری چی اوس سته دائی پر زیاتی کړی او د هند هیواد ته ئی ولیږلی.

برهان قاطع: شطرنج بالکسر و سکون الطاء و کسر الراء المهملین و فتحها و باالسین المهمله راوړیدی او دا

یو معروفه بازی ده او دا حرامه ده په نزد دابو حنیفه او مباح ده په نزد دشافعی پدې عربی عبارت وهو حرام وعند ابی حنیفه ومباح

عند الشافعی اذا لم یکن فی المال خسران وفی الصلوة نسیان وفی اللسان طغیان و الموظبته علیه عنده ایضاً کراهته شدیده.

عالمگیری: نرد بالفتح وسکون الراء یوه معروفه بازی

او مهره هم ورته وایی او تنې ته ددرختی هم وایی او داسی وایی چی نرد د بزرجمهر د اختراعاتو څخه دی.

(پاته لری)

« د ۲۷ مخ پاته »

د غزنوی محمود ...

ته وه له ډګره وتښتیدی.

دمحمود سپرو لښکرو چی دپیاده ؤ په مرسته پر هندی لښکرو حمله وروړی وه هندی لښکریان ئی دونه وارخطا کړی وه چی څه قدر پرشاهم تللی وه.

کله چی آنند پال له ډګره ووت دا ددوی دماتی دپاره یوه لویه پلمه سوه.

هندی لښکرو چی خپل مشر د تیښتی په حال کښی ولیدی دوی هم په ډیره وارخطائی او واهمه مخ پسی ونیاوه او د (الفرار) ناري ووهل سوې.

دوی وائی: په دې وخت کی چی آنند پال دمرمو زی ښځی مخ ولیدی په همدغه وخت کی ئې لښکرو ماتی وکړه.

ښځه ډیره بدرنګه وه او په لیدو ئې دهمیشه دپاره دخولی خوند خرابیدی آنند پال چی فیل او لښکر دتیښتی په حال کی ولیدل دقهره سره وایشیدی

خنجر ئې راوکیښ او ښځه ئی په ځګر کی ووهل، او ځای پر ځای ئې ووژل.

ددې تاریخی واقعی لیکوال وائی چی جیپال ددې ښځی معشوق په اور کی

اچولی ؤ، دی دخپل معشوق دنجات لپاره خپل ځان اورته اچولی او په دغسی بدرنګ اوښتی وه.

ښځی دژوند په آخیر وشیبو کی وویل چی زما ارمان دغه ؤ چی تاسی په بدحال کی ووینم همداؤ چی ستا او ستا دپلار می ډیر بد حالات ولیدل نور ارمان نلرم.

(پای)

دیوه‌ځوانیمرګ پیغام:

زمادواده شپه

ای ژوندیو انسانانو! مشرانو، ځوانانو، نجونو او هلکانو او ټولو دوستانو! پسله یوه اوږده انتظاره ماته ویل سوی وه چې مانښام دی دواده شپه‌ده په‌دې هیڅوک نه پوهیدل چې مانښام به زه چیری یم، دورځې د سره زما ټوله دوستان زما دواده په کارلګیاوه. دا هیچا ته نه وه معلومه چې مانښام به زه زوم نه یم او دتور لحد یو بندی به یم.

ماته به ملګرو په خندا ددې شپې مبارکی راکول ما به دوی ته په خندا جواب ورکاوه لیکن په زړه کی می یو ناولی لاس وهل کیدی، ولی چې هرچا ته به می ویل چې شپه لالیری ده ځکه زه حق په جانب وم. ما انتظار کیښ چې څو ساعته وروسته به می دناوی کره ورولی په‌دې نه‌وم خبر چې تاسی به می وچو دښتو ته بوزی تاسی چې څوک سپاره څوک پیاده راسره واست دلته مو راوستم، هغه ځای ته چې زه او زما دځوانی آرزوګانی ټوله پکښې بندیان سول.

ما خودا نه وه ویلی چې دلته می راولی، نن شپه خو زما دواده شپه ده، نن شپه هغه دخوشحالی شپه وه چې دکلورا هیسی ئی په انتظار کی سوځیدم.

اوس چې ګورم توره تاریکه ده هغه څراغان چې دزوم خونه په رونبانه وی دلته ئی نه وینم، هغه تخت چې دوستان ئی وزوم ته ډېر ښایسته ورجوړوی دلته نسته او زه پرو چو خاور وپروت یم.

هغه ګلان موځه کړه چې زما تخت مو په ښایسته کاوه.

(بابو لالی) (خور ښادی) مو ولی ونه ویلی.

هغه خندا وی چې دزړه صمیمیت په ګډوو، هغه خوشحالی چې یو جهان حرکت او حرارت په ګډوو څه سو؟

تاسی ولیدل چې دانبادی او خوښی دهیچا روزی نه سوه دا ځکه چې زما دواده شپه دغم په شپه را بدله سوه.

مری خو هر څوک لیکن زما مرګ د نور و خلکو د مرګ سره تو پیر درلود هغه دا چې هر څوک دواده په شپه نه مری.

دا یوازی زه وم چې دیو جهان هیلو او ارمانو سره تو روخاورو ته راغلم تر دې ټولو ارمانو چې دلته ما دځان سره راوړی دی دادی چې کشکی زما مهربانی مور زما دځوانیمرګی داغ نه وای لیدلی، کشکی خو دې هغه د شفقت څخه ډک زړه د تور وو ینو څخه نه وای ډک سوی زما د مرګ داغ به د مرګ تر ساعته د دې ملګری وی ځکه چې دا مورده، تاسی مور ښه پیژنی چې پر سر ولمبوئی ژوند خوښ دی نه دا چې دځوان زوی مرګ په ستر ګو وینی د جهان ټوله مصیبتو نه ز غملای سی خو دځوان زوی د مرګ د لیدو توان نه لری په زیاتره بیا چې د زوی د واده شپه ئی وی.

تاسی زما په مرګ د دنیا بیوفائی هم ولیدل چې البته عبرت به ځنی واخلی.

تاسی زما په مرګ د دنیا و پیژندل، مور به مو هم ښه تر اپیژندلی وی، دوستان به مو هم پیژندلی وی زما وروستی دعا داده چې پر تاسی دی داسی شپه نه راځی لکه (زما دواده شپه).

عبدالرؤف «منصف»

د کندهار ښاروالی د قیراچولو
د څانګی یو بلدوزر د فعالیت
په حال کی

د کندهار دولتی مطبعه